# دریمه برخه

# ناول

# طب مخصله

لیکوال: عبید ژوند

Pashto_novels TELEGRAM

هلک وویل: تاسو کېنئ ، زه به د ډوډۍ غم وکړم.

ورته مې ووې: په قراره دې وي ، هسې وړي ښکارو ، نور وږي نه یو.

ویې خندل او له حجرې ووت.

شېبه وروسته له دسترخوان او بدنۍ (لوټې) سره راغی ، هغه یې کېښودل او بېرته لاړو.

کوچني ورور مې پورته شو ، لاسونو ته یې اوبه راواچولې او بیا مو دسترخوان هوار کړ. هغه بیا له پتنوس سره راغی ، ورته مې وویل: موږ خو دسترخوان اچولی دی.

پتنوس یې کېښود او بیا یې وویل: تاسو مېلمانه یئ ، زه راتلم.

له خبرو ډېر باادبه او هوښیار معلومېده.

څو ځله لاړ او راغی ، دسترخوان یې داسې ډک کړ ، چې د هېڅ شي کمی پکې نه وو.

مشر ورور مې ورته وویل: ګرانه ، چې هر څه تیار وای ، هغه زموږ قبول وه ، دومره خرچه مو هسې کړي ده.

هلک ووې: پرون مو باید مېلمانه کړی وای ؛ خو موږ نه وو خبر.

ډوډۍ ته سره کېناستو ، د نوم او نورو ورونو په اړه مې ترې پوښتنه وکړه ؟

هغه وویل: ریحان نومېږم ، ورونه نه لرم ، اته خویندې مې دي.

زړه مې پرې وسوځېده ، مشر ورور مې ورته وویل: بس د خدای کارونه دي ، انسان څه نشي ویلی ، زموږ بیا خور نشته.

هو یې وکړل او بیا یې د اوبو جبک واخست ، ګیلاس یې ترې ډک کړ ، زموږ مخې ته یې کېښود.

د ډوډۍ تر خوړلو مو ډېره پېژنګلوي وشوه.

پلار یې ډاکټر وه ، ریحان په یوه حصوصي ښوونځي کې سږ کال له څلورم څخه پنځم ټولګي ته په لومړۍ درجه بریالی شوی و.

د ډوډۍ وروسته یې چای راوړ ، نیمه پیاله به مې نه وي څښلې ، چې د هیلې زنګ راغی ، قطع مې کړ.

وټساپ مې خلاص کړ ، هغه هم انلاین وه. مسېج مې ورته وکړ: وبخښه ، زه بل ځای مېلمه یم ، حجره کې یو ، د خبرو موقع نشته.

سمه ده یې ولیکل او وټساپ مې بند کړ.

تر ناوخته ناست وه ، کیسې مو کولې ، چې ریحان ته زنګ راغی ، خبرې یې ورسره وکړې او بیا یې مور ته وویل: مور مې وه ، لکه چې ستاسو مور خپل کور ته ځي.

مشر ورور مې او مور له ځایه پورته شوو.

هغه د شپې کولو ټینګار کاوه ؛ خو مور ورته وویل: خوند یې وکړ ، دادی سره ومو پېژندل ، نور خو اوس ګاونډیانو شوو ، ځو او راځو به. د باندې راووتو او رخصت مو ترې واخیست.

کور ته راغلو.

مشر ورور مې له کېناستو سره سم وویل: دومره مصرف یې کړی وه ، چې هر څه هسې پاتې شول.

مور مې وویل: ډېر ښه خلک دي ، زه یې په کور کې په عزتونو ستړې کړم ، دومره ښې لوڼه یې وې ، ګردې رانه تاووې دې ، چې خپه نشم ، له ځانه وشرمېدم او بیا یې خبره وغځوله: تاسو هم همداسې فکر کوئ ، پلار یې ډاکټر دی ، د اتو خویندو همدا یو ورور دی ، څه کار یې وه ، نه مه ورته وایئ.

ورته مې وویل: مورې ، هغه زوی یې له عمره کم دی ؛ خو ډېر هوښیار وه ، دلته چې مور او دوی د یو بل په درد ونه خورو ، بل څوګ خو نشته.

تر ډېره مو د هغوی په اړه خبرې وکړې او بیا زه د مور کوټې نه د څنګ کوټې ته د خوب په بهانه واوښتم او هیلې ته مې زنګ وکړ ؛ خو پورته یې نه کړ.

وټساپ کې مې وکاته ، هغلته هم افلاین وه.

موبایل مې څنګ ته کېښود او ځان ته مې د خوب ځای برابر کړ ، وغځېدم.

له ځان سره مې وویل: شکر خدایه ، دا ګاونډیان مو څومره ښه دي ، چې له بدو سره واړوې ؛ نو به هره ورځ لانجه وي.

په همدې فکرونو کې وم ، چې د هیلې زنګ راغی ، ژر مې اوکې کړ. سلام یې وکړۀ.

ځواب مې ورکړ. هغې وویل: موبایل مې چارج ته ایښی وه ، اوس نور ویده کېدم ، ما خو فکر وکړ ، چې له ملګرو سره دې شپه ده ، شاید زنګ ونه کړې.

ورته مې وویل: همدلته ګاونډیانو ډوډۍ کړې وه ، بل ځای وم تللی.

ښه یې وکړل او بیا یې زیاته کړه: ګاونډیان مو څوک دي ؟

ورته مې ووې: د همدې مرکز دي ، نور یې څوک نشته ، زموږ سره یو لس کلن په هلک حجره کې ناست وه ، پلار یې ډاکټر دی.

هغې وویل: هلکه څه نومېده ؟

ورته مې ووې: ریحان نومېده ، ولې ؟

هغې هسې وویل او بیا یې زیاته کړه: زما د ترور خاوند هم ډاکټر دی ، فکر مې وکړ ، چې هغوی نه وي ، خبره یې وغځوله: ښه ګاونډیان خوند کوي ، زموږ سره دي ، بیخي داسې فکر نه کوو ، چې پرادي خلک دي.

هو مې وکړل او بیا مې ورته ووې: بس دا هر څه په ځان پورې تړلي دي ، چې خپله ښه وې ؛ نور خلک هم ښه دي.

تر ډېره مو خبرې وکړې او بیا هغې وویل: الهامووو سترګې مې پټې ، پټې کیږي خوب راځینه.

په بیړه مې ورته وویل: هله ، وړاندې دې ولې نه وې ، زه هم ویده کېږم.

خدای پاماني مو وکړه او کمپل مې په سر راکش کړه.

تر ناوخته خوب نه راته ، کله به په یو لټ اوښتم او کله په بل.

بلاخره خوب وړی وم ، سهار له لمانځه وروسته ، چې د مور کوټې ته لاړم ؛ نو چای تیار وه.

مشر ورور مې لا وختي خښبلی وه ، له ځایه پورته شو او مور ته یې ووې: زه ځم ، چې نن له کابل څخه خلک راځي ، زموږ رئیس هم نشته ، مریض دی.

هغه لاړو او موږ چای ته کېناستو.

مور مې وویل: زویه ، بېګا د ګاونډیانو یوې جینۍ راته وې: زه شفاخانه کې کار کوم ، ته مې لیدلي یې ، څه وخت وړاندې هلته راغلې وې.

زما سم پام نه وو ، ورته مې وویل: کیدای شي ، چېرته یې لیدلي وې.

له چای مې غړوپ وکړ ، ګرم وه ، بېرته مې کېښود.

مور ووې: هغې ویل ، چې زوی ته مې دې ځو وارې ستا د پوښتنې لپاره زنګ هم وکړ.

حیران شوم ، مور ته مې زیر ، زیر وکتل او بیا مې له ځان سره وویل: لکه چې لانجه جوړه شوه ، اوس به څه کوم ، دا خو د نرسې دوی کور دی.

مور مې بیا وویل: ډېرې ښې اخلاقي جینکۍ دي ، هغه شفاخانه کې چې کار کوي ، زیاته ښکلې هم ده.

ورته مې وویل: مورې ، ښه ګوزاره ورسره کوۀ ، چې هغوی ښه دي ، باید موږ هم ښه اوسو.

چای مې وڅښۀ ، مور ته مې ووې ، زه به نور کار ته لاړ شم؟ سمه ده زویه ، یې وویل او ترې راپورته شوم.

له کور چې راووتم ؛ نو نرسه مې ذهن ته راغلۀ. له ځان سره مې ووې: هیلووو دې خدای نه خبروي ، کنه تیار جنګ دی ، وایي به چې تاته معلومات وو ، ځکه د دغه کور نیوۀ.

بیا مې وویل: هغه خو به نه خبرېږي ، له نرسې سره څه کوې ، اوس خو سره ګاونډیان شو ، په همدې چورتونو کې وم ، چې له څنګ مې موټر تېر شو ، سر یې له ښیښې نیم راوویسته او راته یې وویل: لکه چې پوډر دې وهلي دي ، د سرک په منځ کې روان یې ، هارنونه هم نه اورې.

ځان ته مې وکتل ، ومې خندل ریښتیا هم د سرک په منځ کې روان وم ، ژر څنډې ته شوم.

تر شرکته په همدې فکرونو کې ډوب وم.

کتابچې مې راواخیستې ، پروني حسابونه مې برابر کړل او بیا د نن په کار لګیا شوم.

ښه وه ، چې کار به مې کاوۀ ؛ نو ذهن به مې هم پکې مصروف وه ؛ خو چې اوزګار به شوم ، همدا هیله او نرسه وې.

ورځ په همدې فکري کشمکش کې تېره شوه.

سبا چې کار ته راتلم ،  له کور څخه به مې داسې څو متره مزل کړی وي ، موبایل ته زنګ راغی.

جېب ته مې لاس کړ ، موبایل مې راواخیست ، چې ګورم ، د نرسې شمېره ده. اواز مې پرې بند کړ ؛ خو پورته مې نه کړ. شېبه وروسته یې بیا زنګ وکړ ، زړه نه زړه مې اوکې کړ او هلو مې وکړل.

هغې وویل: داسې روان یې ، لکه چا چې پسې اخیستی وې ، موبایل ګورې ؛ خو پورته کوې یې نه ، شاته وګوره.

په بیړه مې مخ شاته واړوه ، هغه په تور حجاب کې را روان وه ، بېرته مې ترې مخ واړوه ، ځان مې داسې وښوده ، چې نه یې پېژنم ، ورته مې وویل: تاسې څوک یئ ؟

اممممم یې وکړل او بیا یې  وویل: نوی کور او زموږ ګاونډیتوب دې مبارک شه.

ما بیا هماغه خبره تکرار کړه ، وبخښئ ، ومې نه پېژندې ، تاسې څوک یئ ؟

هغې وویل: څه موده وړاندې چې د مور ناروغه وه او روغتون ته مو راوړې وه ، هغه نرسه یم او اوس مو ګاونډۍ.

ورته مې وویل: ښه ډېر ښه ، تاسې دلته اوسېږئ ؟

هو یې وکړل او بیا یې زیاته کړه: ستاسو په دلته راتګ له زړه خوشاله شوم ، اوس دې نو مور یوازې نه ده.

مننه مې ترې وکړه او ورته مې ووې: بس د خدای کارونه دي.

هغه لکه پوهه شوي ، چې وي ، زه ډېرې خبرې نه غواړم ؛ نو یې راته وویل: بس د همدې په خاطر مې زنګ کړی وه.

بیا مې مننه وکړه او اړیکه مو پرې کړه.

د شپږم ورځ وه ، نن لږ کار زیات وه ، ځکه د یوې هفتې حسابي پاتې وه ، ورځ سترې تر مازدیګر راورسیده.

وټساپ مې خلاص کړ ، د هیلې مسېج راغلی وه ، لیکلي یې وو: شپې ته مېلمه دي ، سبا د ترور کره درځم ، بیا زنګ درته کوم.

تر سبا وخت لکه کال اوږد شو او هېڅ تېرېده نه ، په ډېرې بې صبرۍ مې یې زنګ ته شېبې شمېرلې.

شپه تېره شوه ، سهار شو.

مشر ورور مې له ملګرو سره چکر ته لاړ او کوچنی ورور مې کلي ته ، زه په کور کې پاتې شوم.

څه د پاسۀ ، نهه بجې وې ، چې د هیلې زنګ راغی.

اوکې مې کړ ، هغې ووې: الهامووو اې ، زه بخښنه غواړم ، نن پاتې شوم ، ترور دوی مې دلته راغلل.

ښه غوسه راغلۀ ؛ خو هغې ته مې ووې: سمه ده ، کومه خبره نه ده ، بله ورځ به راشې.

هغې وویل: ته خپه شوې ، زه درځم ، هغوی د راغلي وي.

په خندا مې ځواب ورکړ: لېونۍ ، نه یم خپه شوی ، په دې کې خو ستا ملامتیا نشته ، چې هغوی درغلل او بیا مې خبره وغځوله: که ژوند وو ؛ نو ډېر به سره وګورو ، اوس هله ورځۀ ، له ترور دوی سره کېنۀ.

هغې بیا هماغه د خپګان خبره تکرار کړه ؛ خو قناعت مې وکړ ، چې خپه وای خپله مې درته وې.

خدای په اماني مو وکړۀ او اړیکه یې پرېکړۀ.

کور ته راغلم ، په برانډه کې لویې دروازې ته مخامخ له مور سره لمر ته پر کټ کېناسم.

مور مې وویل: نن لمر ډېر ښه خوند کوي ، ماته یې خوب راوستۀ.

ورته مې ووې ، هوا یخه ده ، ساړه زیاتیږي ؛ نو لمر ځکه خوږ لګیږي ، ما چې بله خبره کوله د کور دروازه خلاصه شوۀ ، د ګاونډیانو د ستر عمر ښځه راننواتۀ ، له دروازې یې راغږ کړ: څنګه پرادي خو ځوګ نه وي ؟

مور مې له ځایه ورپورته شوه ، ورته یې ووې راځۀ ، هېڅوک نشته.

ښځې له دروازې د باندې غږ کړ ، راځئ ، مور مې مخې ته ورغلۀ.

یوه ډله جینکې راننواتې ، په بیړه له ځایه پورته شوم او د څنګ کوټې ته لاړم ، دروازه مې رابند کړۀ.

مور مې وړاندې هغوی ورپسې بلې کوټې ته لاړل.

زه پر کټ اوږد وغځېدم ، د چورتونو په دنیا کې ورک شوم ، چې مور دروازه راخلاصه کړۀ او ویې ویل: ته خو داسې اوږد غځېدلی یې ، مېلمانه دې ونه لیدل ، د چای او غرمې لپاره څه شی راوړۀ.

په بیړه له ځای پورته شوم او مور ته مې وویل: څه شی راوړم ؟

هغې ووې: د چای لپاره دې چې څه خوښ شـول ، غرمې ته غوښـه او شـنه سـبزي درسـره راوړۀ.

ښه مې وکړل او روان شوم.

نیم ساعت وروسته مې هر څه راوړل ، سودا مې مور ته ورکړۀ او زه نږدې دوکانونو ته وواتم.

څو شـېبې وروسـته ، مې مور زنګ وکړ او راته یې ووې: زویه ، مالګه مې بیخي له یاده وتلي وه ، ختمه ده.

ځواب مې ورکړ ، چې دروړم یې ، اړیکه مې پرېکړۀ.

له دوکان مې مالګه واخیسـته ، بېرته کور ته روان شـوم ، چې له دروازې ننواتم ؛ نو مخامخ مې په هیلې سترګې ولګېدې.

ځای په ځای حیران ودارېدم ، لکه خوب چې وینم ، باور مې نه کېده.

فکر مې وکړ ، چې غلط شوی یم ، بیا مې وروکتل ، هماغه وه ، ماته یې په خندل کتل.

فکري تمرکز مې بیخي له لاسه ورکړ. له ځان سره مې ویل ، خوب وینم ، بیا مې شـا او خوا وکتل ، هر څه ریښتیا وو.

مور مې له کوټې را وواتۀ او راباندې یې غږ کړ ، مالګه دې راوړۀ ؟ هیلې ژر د کوټې لور ته حرکت وکړ.

هو مې وکړل او ما ځان داسـې وښـوده ، چې جینکۍ دې نشـم ورتلی ، نو مور مې راغلۀ او مالګه یې رانه واخیسـته. حیراني مې لا زیاتېده ، بېرته د باندې راوواتم. د کور مخې ته په مخامخ په سیمنټي جوړ شوي ځای لمر ته کېناستم.

له ځان مې همدا پوښـتنې کولې: هغې خو ماته وویل ، چې ترور دوی مې راغلي دي ، نشـم درتلی.

هغه څنګه او له چا سره راغلۀ ؟

کور څنګه ورمعلوم وه ؟

دلته به مې یې مور او ګاونډیانو ته څه ویلي وي ، چې زه څوګ یم ؟

بيخي ګډ وډ شوم او اوس مې هم باور نه کېده ، چې دا خالت ريښتيا دی.

موبايل مې راواخيست زنګ مې ورته وکړ ؛ خو پورته يې نه کړ ، شېبه وروسته يې پيغام راغی ، ليکلي يې وو: وټساپ ته راشۀ.

ژر مې وټساپ خلاص کړ ، چې ما مسېج کاوه ؛ نو د هغې مسېج راغی ، څنګه حيران شوې ؟ ولې تاته مې ويلي نه وو ، چې کور ته درځم ؟

ورته مې وليکل: هيلووو زه خو له حيرانۍ مرم ، ته څنګه او له چا سره راغلې ؟

هغې: له خندل وروسته راوليکل: زه لکه د پيريانو غوندې يم ، يو دم راپيدا شوم او بيا يې زياته کړه: وخې څنګه غلی ودارېدې ، بيخي دې راونه کتل ، ستا کور ته راغلې يم ، چېرته لاړې ؟

په بيړه مې ورته وليکل: دا اوس خوب دی او که ريښتيا ؟ زه خو هېڅ پوهېږم نه.

هغې وروستی مسېج وکړ: کور ته راشۀ ، زه دې له مور سره د غرمې ډوډۍ پخوم.

سمه ده ، مې وليکل او وټساپ مې بند کړ.

زړه مې بې واره ټوپونه وهل.

فکر مې هېڅ خپل ځای ته نه راته.

بيا ، بيا به مې له ځان سره ويل: دا اوس څه کيسه ده ؟

فکر مې کاوۀ ، چې د خوب په نړۍ کې يم ؛ خو چې شا او خوا به مې نظر واچوه او ځان ته به مې وکتل ، په حقيقي کې نړۍ وم او دا هر څه ريښتيا وو.

د هيلې دغه خبرې مې په ذهن کې تاوېدې راتاوېدې ، چې ستاسو کور ته راغلي يم ، بيخي دې راونه کتل.

سل زړونه مې سره يو کړل او د کور په لور روان شوم ؛ خو په دې مې هېڅ سر نه خلاصېده ، چې هيله څنګه او له چا سره راغلي ده!؟

کور ته چې دننه شوم ، له دروازې سره نږدې هيلې له نالکۍ اوبه اخيستې. زه يې چې وليدم ؛ نو په مخ کې يې له ورايه سورخي ښکاره شوه ؛ خو په مسکا يې راته ووې: الهامووو ودې ليدل څنګه راغلم ؟

زه داسې وم ، لکه ټول خواص مې چې له لاسه ورکړي وي ؛ خو په ټول جرات مې په خوله سټري مشي ورسره وکړل.

هغې وويل: کوټې ته درځه ، که موقع مې پيدا کړه هلته درځم ، کنه نغري ته مخامخ کېنه ، زه ډوډۍ پخه وم ، سره وينو به.

ورته مې ووې: هيلووو دا هر څه اوس ريښتيا دي ؟

هغې وويل: هو لېونيه ، هله نور کوټې ته ځه.

په لړزېدلي وجود کوټې ته روان شوم ، مور مې هم له څنګ کوټې راووته ، چې زه يې وليدم ؛ نو يې راته ووې: زويه ، چاى تيار دی که يې څښې ؟

مورې يوه پياله به وڅښم مې وکړل او کوټې ته ننواتم.

شېبه وروسته د مېلمانو سره راغلې کوچنۍ جينۍ پتنوس زما مخې ته کيښود او بېرته لاړه.

د کړکۍ خواته په توشکه لمر ته کېناستم او ځان ته مې پياله ډکه کړه ، پام مې نه وه د کوټې دروازه خلاصه وه ، ما د نغري لور ته کتل ، چې نرسه له نورو انجونو سره له کوټې راوواته ژر مې مخ رواړوه او په چاى څښلو لګيا شوم.

نرسه د اوبو نالکۍ خواته راغله او هغه نورې د هيلې څنګ ته لاړې.

له ځان سره مې وويل: دا غمازګرې وګوره ؛ خو قرارې به کوټه کې ناستې واى.

ځان مې ناګاره واچوه ، چې زما د باندې هېڅ پام نه دى ، خپل چاى څښم.

نرسه بېرته زما د کوټې په لور راغله ، چې رانږدې شوه ؛ نو د غوټۍ غږ يې وکړ. ور ومې کتل هغه موسکا وه ، غوټۍ له نغري ناره کړه ، بابو دلته يم ، نرسه بېرته تاوو شوه او د هغوى په طرفه لاړه.

وپوهېدم ، چې اوس نو له هيلووو ســره له دې ځايه ليده ســخت دي ، په کټ کې اوږد وغځېدم ، داسې مې احساسوله ، چې زړه مې پخپل ځاى نه دى ، لکه په هوا چې وي.

د خيالونو په نړۍ راګرځېدم ، چې مور مې کوټې ته راغله. له ځايه راپورته شـوم ، مورکۍ راته ووې: زويه ، اول ځل يې دى ، هغه يوه يې له بله ځايه تروزۍ راغلې ده ، لږه مېوه به دې راوړې واى ، شرم دى.

سـمه ده ، مې وکړل او بیا مې زیاته کړه: که نور څه شـی دې پکار هم راته ووایهٔ ، چې تیار روان یم.

مور مې ووې: نه اوس خو مې څه شی نه دي پکار ، بس همدا مېوه راوړهٔ.

دسمال مې راواخیست او د باندې راووتم.

د نېردې دوکانونو پر ځای د مېوو خرڅولو ځانګړي ځای ته پسې لاړم.

په څو کراچیو ( لاس ګاډو ) وګرځېدم ؛ خو مې خوښـه نشـوه ، لږ وروسـته د یوه ماشـوم سـره مېوې خوند راکړ ، ترې ومې خیسـته او روان شـوم. د سـرک پورې غاړه دوه ماشـومان چې د کاغذونو / پلاسـتیکونو بوجۍ ورسـره وې ، شـکېدلي او خیرنې جامې ، چاودلي مخونه ، یو د بل په اوږو لاسونه اچولي روان وو.

له ښکته سپین ټوډی موټر په ډېرې تېزۍ مزل کوهٔ.

بازاري سـپي چې په لاره کې په هډوکي لګیا وه ، غاښـونه ښـکاره کړل او وغرېده. ماشـومان ورخطا شول او د سرک دې غاړه یې رامنډه کړهٔ.

ما نارې کړې ، نه مو خوري ، موټر دی ، یو یې ځای په ځای ودارېدهٔ ، هغه بل د برېکونو سره د موټر مخکېنۍ برخې ووهه او وړاندې په سرک کې پړمخې وغورځېده.

ورمنډه مې کړهٔ ، چې زه ورسـیدم ، د څنګ دوکانونو څخه هم خلک راغلل ، ولاړ ماشـوم په ځمکه ، ځمکه ځان وهۀ.

د موټر وهلي ماشوم له خولې او پوزې وینې روانې وې ، بې هوشه پروت وه.

موټروان تښتېدلی رنګ او وجود رپېدلی هک پک حیران ولاړ وه.

یو کس پرې غږ کړ: هله موټر راوړاندې کړهٔ ، چې ماشوم شفاخانې ته ورسوو.

په بیړه څو کسـانو ماشـوم موټر ته پورته کړ او یو دوه کسـان ورسـره کېناسـتل او حرکت یې وکړ.

چورت مې بیخي خراب شو او د کور په طرف روان شوم.

د ماشـوم غریب او معصـوم حالت مې سـترګو ، سـترګو ته کېده ، چې کور ته راورسـیدم ، مور مې ووې: زویه ، ناوخت دې کړ!؟

د پېښې کیسه مې ورته وکړهٔ ، مېوه مې ورکړهٔ ، خپلې کوټې ته روان شوم.

هیله او نرســه دواړه له مخامخ کوټې راوواتې ، چې زه یې ولیدم ؛ نو د ټیکریو پیڅکې یې مخونو ته ونیوې ، د نغري لور ته لاړې او زه کوټې ته ننواتم.

څو شېبې وروسته ډوډۍ تیاره شوه ، د هیلې دوی سره راغلې ماشومې مې مخې ته شنه سبزي ، وریژې او قورمه کېښودۀ ، بېرته په منډه لاړۀ.

ډوډۍ مې وخوړۀ ، غوري او قابونه مې د کټ لاندې کېښودل.

زه له کړکۍ څخه کوټې ته راپرېوتي لمر ته پر توشکه کېناستم او د باندې لور ته مې کتل.

شېبه وروسته هیله د نالکۍ خواته راغلۀ او زما طرف ته یې راوکتل.

ژر مې دروزاره بنده کړۀ ، چې څوک مې ونه ویني او بیا مې غلی غبږ پرې وکړ: هیلووو دا څنګه ورځ ده ، ته زموږ کور ته راغلې یې ، والاکه مې هېڅ باور کېږي.

هغې لومړۍ د براندې لور ته وکتل او بیا یې راته ووې: الهامووو دومره خوشــاله یم ، چې درته ویلی نشم ، زه هم داسې فکر کوم ، چې خوب وینم او بیا د کړکۍ لوري ته رانږدې شوۀ.

ورته مې وویل: کوټې ته څوک درباندې راونوځي. په خندا یې ووې: ولې څه پرادی خو نه یې ، رادې شي نو او بیا یې خبره وغځوله: اې الهامیه ، نن خاص ستا سره لیدو او خبرو ته راغلې یم ، ته یو ځل د باندې ووځۀ ، چې دوی دې ووینې ، لږ وروســته پټ بېرته همدې کوټې ته راشۀ.

زه د زنګ په بهانه ، چې له شفاخانې څخه نرسې راته کړی دی ، ستا کوټې ته  درځم.

ما چې ځواب ورکاوه ، مور مې له کوټې راوواته.

هیله ژر په سطل ډکولو لګیا شوه او ما کړکۍ بند کړۀ ، لږ وروسته د باندې ووatم.

د کوڅې په بر سر کې ماشومانو کرکټ کاوۀ ، ورته مې ووې: ما لوبه کې نیسئ ؟

ببټ په لاس بال ته ولاړ ماشوم په بیړه وویل: هو ، ما پسې دې نوبت دی.

موبایل مې د جمپر جېب ته کړ او له دسمال سره مې یو ځای ناست ماشوم ته ورکړل. په لوبه کې ورسره ودارېدم ، شېبه وروسته د بېټ وار راغی.

کوم ماشـوم چې بال راته کاوه ، ورته مې وویل: زما کرکټ نه دی زده ، ورو بالونه کوۀ. سمه ده یې ووې ، توپ یې راوعورځوۀ. داسې پسې تاوو شوم ، لکه په ریښتیا چې مې نه وي زده ، ومې نه وهه.

ټولو وخندل ، د اور په وروستي بال يې رانه د ويکټو پر ځای ولاړه بوشکه وويشته ، ماشومانو له نارو سره رامنډه ، هله اوټ شو.

څو دقيقې ورسره ولاړ وم ، بيا مې د هيلې خبره رايادده شوه ، جمپر او دستمال مې واخيستل کور ته روان شوم.

دروازه مې غلې حلاصه کړه او کور ته ننواتم.

په انګړ کې مې يوې بلې خوا ته وکتل ، څوک نه وو.

په داسې ډول چې هېڅوک مې ونه ويني ، په بيړه د کړکۍ له لارې کوټې ته ننواتم.

زړه مې بې واره ټوپونه وهل ، لکه پرادي ځای ته چې راغلی وم.

په کټ کې مې دواړه لاسونه سر ته لاندې کړل او اوږد وغځېدم ، همدا سوچونه مې وهل ، چې اوس به هيله راځي او اوس.

له ځان سره به مې ويل ، دا خو سم لېونتوب دی ، که څوک مو ووينې ؛ نو څه به وايي ؟

موبايل مې راواخيست ، چې ډېټا مې خلاصه کړه ؛ نو د هيلې مسېج راغی ، ليکلي وو: ته خو پسې ورک شوې ، لکه چې چا وتښتولې ؟

ځواب مې ورکړ ، کوټه کې يم ، لږ وړاندې راغلم.

بيا يې راوليکل: هله زنګ وکړه ، زه د نرګس په نوم غږ درته کوم ، له دوی څخه د خبرو په بهانه ستا کوټې ته درځم.

سمه ده ، مې وليکل او بيا مې ورته زنګ وکړ.

زړه مې درزا شروع کړه ، هغې له اوکې سره سم غږ: سلام نرګس ، لږ غلې شوه ، لکه د مقابل کس خبرې ، چې اورې بيا يې وويل: زه نن د ترورزيو کره راغلې يم ، ته ودرېږه ، چې زه د خنګ کوټې ته واوړم ، يې ووې ، اړيکه يې پرې کړه.

شېبه وروسته د دروازې غنګ شو ، د زړه درزا مې لا زياته شوه ، سترګې مې پټې کړې ، نه پوهېدم چې څه وکړم.

هيلې غږ کړ: الهامووو.

په خوله مې ګوته ورته کېښوده ، د بلې کوټې لور ته مې په لاس او سترګو اشاره وکړه.

هغې ژر دروازه بند کړۀ او بیا یې دغه ټپه راته وکړۀ:

دیدن د سر په بدله دی

چې سر ساتې خاورې به وکړې دیدنونه

ورته مې ووې: اې هیلو ، ته لېونۍ شــوې یې ، دغه بله کوټه له خلکو ډکه ده ، که څوک راشي ؛ نو څه به وایي ؟

په کټ کې مې څنګ ته کېناســته ، زما لاس یې خپل ټټر ته یووړ او بیا یې ووې: ته مې زړه وګورۀ ، نور بهر راوځي.

ورته مې وویل: ما وګورۀ ، له تا په بد حال یم.

هغې جېب ته لاس کړ ، یو کوټی یې راوویسـت او بیا یې ماته ووې: لاس دې ونیسـۀ پخپلو لاسونو ساعت درتړم ، ورپسې یې ګوتمه راپه ګوته کړه.

هیلو مې وکړل ، نور خبرې رانه ورکې شوې ، چې اوس څه ووایم.

هغې بیا وویل: الهامووو داســې مې په خیال کې هم نه راتلل ، چې زه به دې څنګ ته کېنمه ، دا څنګه ورځ ده ؟

سترګو ته مې یې وکتل او بیا مې ورته ووې:  زه اوس هم باور نه کوم ، چې دا ریښتیا دي ، دا یو خوب دی ، خوب.

په خندا یې راته ووې: لېونیه ، دا هر څه ریښـتي دي ، خوبونه موبونه نشـته ، دادی زه دې په ژوندۍ بڼه څنګ ته ناسـته یم ، موبایل یې راواخیسـت او بیا یې زیاته کړۀ ، هله نو بلې کوټې ته ځم ، یو عکس اخلو.

سمه ده مې وکړل او ځان مې تصویر ته برابر کړ ، چې دروازه خلاصه شوه.

په بیړه مې دروازې ته وکتل ، مور وه.

زه او هیله لکه بې ساه جسدونه ، هک حیران شوو ، په ځای مېخ پاتې شوو.

مور مې ځان ونه پوهوۀ ، بېرته وګرځېده.

څو شېبې همداسې بې حرکته چوپ ناست وو ، یوه بل ته مو حیران ، حیران کتل او زړه مې بې واره ټوپونه وهل.

هیلې چوپتیا ماته کړۀ: اوس یې هسې هم ولیدو ، هله تصویر اخلو ، زه ځم.

په خندا مې ورته ووې ، مور هېڅ نه وایي ، چورت مه خرابوۀ ، تصویر مې ورسره واخیست ، هغه له ځایه پورته شوه.

له لاس مې راونیوۀ ، ورته مې ووې: هیلووو له مانه ماځۀ!

راتیته شوه ، په تندي یې ښکل کړم ، بیا یې راته ووې: لېونیه ، همدلته یم له تانه هېچېرته نه ځم. بیا ، بیا به راځم.

اوس دې بلې کوټې ته اوړم.

سمه ده مې وویل.

هغې زیاته کړۀ: رخصت نه سره اخلو ، ځکه خدای پاماني هغه څوک کوي ، چې سره بېلیږي ، په ما او تا دې خدای داسې حالت نه راولي.

اللهم امین مې وکړل ، هغه روانه شوه ، له دروازې یې په شا راوکتل ، سترګه یې راته ووهلۀ ، ټول وجود مې لکه برق چې نیولی وي ، بیا یې لاس وخوځۀ لاړه.

ساعت او ګوتمې ته مې وکتل ، بیا مې له ځان سره وویل: دا ماته هیلووو راکړي ، تر مرګه به یې ساتم.

د هیلې په اړه د خیالونو دنیاګۍ ته ننواتم ، دا هر څه مې لکه د یوه فلم په ذهن کې راتېرېدل او سترګو ته مې کېدل.

په زړه کې مې یو ډول پټه خوښي احساسوله ، دا مې د ژوند تر ټولو ښکلي ورځ وه ، لکه یو خوب چې مې ریښتیا شوی وي.

شېبه وروسته مې په ذهن کې راوګرځېدل ، چې زه هم باید هیلې ته یو څه واخلم.

په بیړه له ځایه پورته شوم ، ښار ته راووتم.

د بنجاره شیانو مارکېټ ته راغلم ، دا چې د جمعې ورځ وه ؛ نو اکثریت هټۍ (دوکانونه) تړلي وو ، یو څه خلاص وو.

له هغوی مې ښځینه ساعت ، غوږوالۍ او یوه غاړه واخیسته ، بیا مې په یوه کاغذي پاکټ کې بند کړل ؛ خو وروسته مې ذهن ته راغلل ، چې باید راغلو تروړلونو ته یې هم یو څه واخلم.

هغوی ته مې هم لږ څه واخیستل او کور ته راغلم.

مور ته مې غږ کړ ، چې کوټې ته راشـي. پوهېدم ، چې زه او هیله یې لیدلي یو ؛ نو مې ورته ووې: مورکې ، دغه جینۍ د ډاکټرۍ درس وایي ، زه له پوهنتون څخه ورسـره پېژنم. بیا مې خبره وغځوله: مورکۍ ، ماته به همدغه کوې ، هغه او زه سره ملګري یو.

مور مې وویل: زویه ، ما چې ولیدۀ ؛ نو زړه مې پرې خوږ شـو ، چې راکوي یې ، له دې ښــه خبره چېرته شته.

نن یې ټول کارونه راته وکړل.

شـیان مې راواخیسـتل ، مور ته مې ورکړل او ورته مې وویل: مورې ، دغه شـیان مې دغه جینکو ته اخیستي دي ؛ خو دغه خړ پاکټ به هماغه یوې ته ورکړې.

ځان ورته وښـیۀ ، چې ما درته اخیسـتي دي او ورته ووایۀ: هیله لږ له لرې څخه راغلې ده ، ډېر څه مې باید ورته اخیستی وای ؛ خو بل وخت یې ښه برخه کوم.

ویې خندل او بیا یې راته ووې: هغې ته دې څه شی اخیستي دي ؟

ورته مې وویل: دومره څه شی نه دي ؛ خو هغه به ورته خوشاله شي.

مور مې وویل: ما بنګړي او یو کمیس ایښي دي ، هغه به هم دسمال کې ورته وتړم.

هغه دې خپل کار دی مې ووې. مور مې له ځایه پورته شــوۀ ، شــیان یې د کټ لاندې کیښـودل او بیا یې په تلو کې ووې: زه اوس له هغوی سره کېنم ، چې کله ځي ؛ نو شیان به ورکړم.

سمه ده مې وکړل ، موبایل ته مې د سلیم زنګ راغی.

اوکې مې کړ ، سلام جوړ پخیر مو وکړل ، هغه پوښتنه وکړۀ ، چې چېرته یې ؟

ورته مې ووې ، کور کې یم نور به چېرته لاړم شم.

هغه وویل: نوي جوړ شوي پارک ته راځۀ ، زه هم لاره کې یم.

دا چې اول مې ورته ویلي و ، کور کې یم ، هېڅ نه کوم ؛ نو د بهانې ځای نه وه پاتې ، سمه ده مې وکړل او اړیکه مو پرېکړۀ.

له هیلې څخه مې زړه نه کېده ؛ خو ځان مې برابر کړ ، لږ وروسته پارک ته روان شوم.

هلته چې ورسیدم ؛ نو سلیم وړاندې رارسیدلی وه.

دواړه په پارک کې د کرکټ لوبغالي سره نږدې پر سیمنټي چوکیو کې لمر ته کېناستو او چای مو راوغوښت.

پوښتنه مو سره وکړهٔ ، هغه وویل: دا ښار ته خو دې لا وختي راغلي وای ، کلی دې بیخي هېر کړ.

ورته مې ووې: هره ورځ تر ماښامه کار کې وم ، نن د جمعې ورځ رخصت وم ، دا اوس چې له کور راتلم هم مېلمانه وو.

تر مازدیګره په پارک کې سره ناست وو ، ډېرې کیسې مو وکړې.

سلیم ویل ، چې کلي ته به راسره ځې او ما هغه پاتې کاوهٔ ؛ خو دواړه خپلو کورونو ته لاړو.

دروازې ته چې نږدې شوم ؛ نو هیله دوی راباندې راووتل ، یوې خواته ودارېدم.

هغوی روان شــول ، دا چې شادرۍ یې په ســر وې ، معلومېدې نه ؛ خو یوه چې له ټولو وروسته روانه وه ، په شا یې مخ راړوهٔ ؛ زه هم ښـه شېبه ورته ولاړ وم او ورکتل مې ، هغوی چې د کور په دروازه ننواتل ؛ نو زه هم کور ته راننواتم.

ماښام ناوخت وه ، مشر ورور هم راغی او کوچنی ورور مې په کلي کې پاتې وه.

لږ وروســته مې مور ډوډۍ تیاره کړهٔ. مشـر ورور مې په خندا وویل: زه چې نه وم ، داســې خرچې کوئ. سبزي ، وریژې ، قورمه او مېوه پرې دې پاسهٔ.

مور مې ورته ووې: ګاونډیان مو راغلي وو ، بې حده ښــه خلک دي. دومره اخلاقي او د کار جینکۍ دي ، چې کیســـه یې مه کوهٔ ، تعلیم یې هم کړی دی. تر ډېره مې مور د هغوی صفتونه کول.

بیا ما ورته وویل: مورې ، تاته یې کارونه کړي دي ، ځکه یې داسې صفتونه کوې.

مور مې وویل: نه زویه ، له خوی او ناســتې پاســتې هم معلومیږي ، چې زه به کار ته جېګه شوم ؛ نو په زور به یې کېنولم.

هغه بله ډاکټره تروزۍ یې چې راغلې وه ، دغه ډوډۍ هر څه هغې پخه کړې.

مشر ورور مې ووې: مورې ، بس ستا کار جوړ شو ، داسې ګاونډیان خدای درکړل ، چې ټول کارونه درته کوي ؛ خو داسې نه وي ، چې څو ورځې وروسته مو په سرونو کې سره نیولې.

مور مې ورته وویل: زویه ، خدای د نه کوي ، هغوی داسې خلک نه دي او بیا یې خبره وغځوله: دا ډاکټره خو که راکړي ؛ نو الهام زوی ته یې کومه.

مشر ورور مې په خندا وویل: تا خو هغه بله ورځ د ګاونډیانو نرسې صفت کولو او نه بیا ډاکټره شوه ، چې سبا کومه بله ووینې ؛ نو هغه به یادوې او چې ستا خوښه شوه ؛ نو درکوي به یې!؟

زه یې په خبرو کې ورلوېدم ، ورته مې ووې: د مور هره ښه جینکۍ خوښیږي.

مور مې وویل: ماته ډاکټرې خپله ووې ، چې پلار ته وایم ، تاسو ته مې درکړي.

په خندا مې وویل: مورې ، تا به ورته ویلي وي ، چې خوښه شوي مې یې ، ځکه یې دا خبره درته کړي ده.

هو یې وکړل ، بیا یې پتنوس راکش کړ ، قابونه او غوري مو پکې کیښودل او نغري ته مې یووړل.

مور راغږ کړ: زویه ، اوبه به جوش وي ، ترموز پاس په تخچه کې ایښی چای هم درسره راوړه.

سمه ده مې وویل ، د چاینک څخه مې سر پورته کړ ، اوبو غوټې وهلې ، په ترموز کې مې وچ چای واچوه ، د چاینک لاستی تور او ګرم وه ؛ نو په دسمال کې مې ونیوه ، ترموز مې ترې ډک کړ او کوټې ته راغلم.

په چای څښلو مو تر ډېره کیسې وکړې ، بیا مې مور وویل: زه لمونځ کوم ، د خوب راباندې زور دی ، ویده کېږم.

زه هم له ځایه پورته شوم ، د ښنګ کوټې ته لاړم.

لمونځ مې وکړ او کټ ته پورته شوم.

سترګې مې پټ کړې ، هیله مې ذهن ته راغلهٔ ، چې غرمه مې دلته ښنګ ته ناسته وه ، بیا مې ساعت او ګوتمې ته وکتل.

هغه خبره مې یې څو ځلې له ځان سره تکرار کړهٔ" لېوانیه ، زه هېچرته نه ځم ، له تا سره به وم بیا ، بیا به راځم"

د ورځې ټولې کیسې او صحنې مې لکه د فلم غوندې سترګو ته کېدې.

وټساپ مې خلاص کړ ، چې د هیلې پوښتنه کړم ، تر څو خپه شوي نه وي.

د موبايل ډېټا چې مې خلاصــه کړۀ ؛ نو د هغې مســېج راغلی وه ، ليکلي يې وو: له ډوډۍ وروسته چېرته ورک شوې ؟ مورې چې راتلوو ؛ نو ولې راته ولاړ وې ؟

په بيړه مې ځواب ورکړ: يو دې ورور غوندې ملګری مې له کلي راغلی وه ، هغه زنګ وکړ ، پارک ته ورغلم او بيا مې زياته کړه: تا هم شاته راکتل ؛ نو ولې به نه دارېدم.

هغه افلاين وه ، ښه شېبه وروسته يې مسېج راغی: الهامووو مور خو دې وليدو ، تاته به يې څه ويلي نه وي ؟

ورته مې وليکل: داسې غوســه وه ، راته يې ووې ، چې بل وخت رانشـي ، کنه نو زه به يې خوښه شم.

د حيرانتيا سټکر راوليږۀ او بيا يې داسې وليکل: مور خو دې هېڅ داسې نه معلومېده ، چې غوسـه کيږي به ، اوس به څه کوو ، ما خو په زړه کې پاچاهي جوړه کړي وه ، چې هره جمعه به درځم ؟

ځوابي مسېج مې ورواليږۀ: مور مې چې څومره ارامه ده ؛ نو همدومره غوسـه ناکه هم ده ، زه يې سم بې عزته کړم.

څو پرلپسې مسېجونه يې وکړل ليکلي وو: دا څه لانجه شوه ، اوس نو خبره په ريښتيا سخته شوه ؛ خو تا به کومه بهانه ورته کړي وه

هغې نور څه راليکل ، چې ما ژر ځواب ورکړ: هســې ټوکې کوم ، د مور مې هم ډېره خوښــه شوي وې ، ويل يې: هغه ډاکټره بيخي ښه جينۍ وه ، هر څه هغې راته پخه کړل. مشر ورور ته مې يې وويل: که راکوي يې ؛ نو الهامه ته يې کوم.

هغې د غوسې له سټکر سره وليکل: کنه خپل عادت دې وکړ ، دروغ دې راته وويل ؛ خو زه به دې هم خوښه شم او بيا يې زياته کړۀ: اې ، زه د ترور لوڼو ته ورځم ، بيا درسره چټ نشم کولای اوس ښکلي او ارامه شپه ولرې.

ما هم ښه شپه وليکل ، وټساپ مې بند کړ او موبايل مې سر ته کيښود.

هماغه ځای کې ويده شوی وم ، چې زنګ راغی ، سترګې مې په سوک وسولولې او موبايل مې اوکې کړ: د نرسې غږ راغی ، په بيړه يې وويل: ستا په کوټه کې مې د کونج توشکې سره لاندې څه شی ايښي ، هغه بيا واخله او نور يې اړيکه پرې کړۀ.

تلوسه مې شوۀ ، کمپل مې له ځان لرې کړۀ او راپورته شوم.

د کوټې کونج توشکه مې پورته کړه ، سپین پاکټ ایښی وه ، پرې لیکل شوي وو: د تبسم له لوري دې الهام ته ورسیږي.

له ځان سره مې وویل: دا تبسم نومیږي ؟ زما نوم یې څنګه یاد کړ ؟

پاکټ ته مې اندېښـنه وه ، په بیړه مې خلاص کړ ، لومړۍ ترې یو لیک راووتۀ ، یوې خواته مې کیښود بیا دوه دانې د عطرو اسپرې ، یو قلم ، یوه د سپینو زرو ګوتمه وه.

حیران پاتې شـــوم ، چې اوس دې ته ګورۀ. د هیلې هغه پخوانۍ خبرې مې په ذهن کې راګرځېدې ، چې راته ویل یې: که بیا دې خبرې ورسره کړې وې ؛ نو زه به دې خوښه شم.

له ځان سره مې ووې: هیلوو ته څه خبره یې ، چې نرسه ستا ترورزۍ ده.

لیک مې خلاص کړ ؛ خو د خوب راباندې زور وه ، ببرته مې ټول کړ او له نورو شیانو سره مې پاکټ ته واچوه ، په خپل بکس کې مې کیښوده

خپل ځای ته لاړم او کمپل مې په سر راکش کړۀ. تر ډېره مې د تبسـم (نرسـې) د شـیانو او لیک په اړه سوچونه کول.

څنګه باید ځان ترې خلاص کړم ؟

هغه به څنګه وپوهوم ، چې زه بله مینه لرم.؟

که هیله خبره شـي ؛ نو بیا به یې څوګ قانع کوي ؟ هغه به څنګه پوهوم ، چې زه نه غواړم اړیکه ورسره وساتم ؛ بلکې هغه مې نه پرېږدي.

له ځان سره مې ووې: هغه باید دا تمه پیدا نه کړي ، چې زه مینه ورسره لرم ، ځکه دا به د هغې ژوند برباد کړي او بل باید هېچاته درغجنې هیلې ورنه کړل شي.

تر ناوخته همدا سوچونه راسره مل وه او خوب ته یې نه پرېښودم.

په کټ کې کېناستم ، کمپل مې راټوله کړۀ ، د مېز په ایښـی ګیلاس لاندې وغورځېده ، اوبه په قالینه تویې شـوې. په بیړه مې ګیلاس راپورته کړ او لوند شـوی ځای مې په یوه خیرن دسمال وچ کړ.

پرېکړۀ مې وکړۀ ، چې د نرسې لیک لولم ؛ خو موبایل ته زنګ راغی.

د بالښت له لاندې نه مې راواخیست ، چې سکرین ته مې وکتل ؛ نو د شرکت مالک وه.

زر مې اوکې کړ.

هغه سلام وکړ. ځواب مې ورکړ. بیا یې زیاته کړه: ناوخت دی ، له خوب خو به مې نه وې پورته کړی ؟

نه مې وکړل او ورته مې ووې: تر اوسه ویښ وم ؛ خو نور مې بندوست نیوه.

سمه ده یې وکړل او بیا یې خبره وغځوله: زیات وخت دې نه نیسم سبا که کېدای شوه ، لږ وختي راشه ، د مال موټر راغلي دي.

ان شاءالله وختي درځم مې وویل او خدای پاماني مې وکړه.

ځان مې پټ کړ او څو شېبې وروسته خوب وړی وم.

سهار چې مې لمونځ وکړ ؛ نو مور ته مې ووېل: ښېګا راته د شرکت مالک زنګ کړه ، زه ځم چای به هملته وڅښم.

سمه ده یې وکړل ، جمپر مې وغوسته ، دسمال مې له پوزې او خولې څخه تاوو کړ ، له کور څخه راوواتم.

هوا یخه وه ، چې ساه به مې اخیسته ؛ نو له خولې څخه به مې د ساړه له امله د لوګي غوندې تاوو واته.

د کوڅې په کوز سر کې یوه ډله بازاري سپي راپه منډه وو ، له خپلې وېرې مې کاڼي ته مې لاس کړ ، بېرته وګرځېدل.

دا چې وختي وه ؛ نو یم ، یم کس / موټر لیدل کېدل.

تقریباً پنځلسو دقیقو کې شرکت ته راورسیدم. څلور موټر ولاړ وه ، سیده دفتر ته لاړم.

شېبه وروسته اشپاز دسترخوان په تخرګ کې نیولی ، ترموز او پیالې په لاس راننوت.

ورته مې ووېل: څه شی دې ورسره پخه کړي نه دي ؟

هغه دسترخوان هوار کړ ، بیا یې ځواب راکړ: هګۍ مې پخې دي ، که نور څه شی غواړې ؛ نو درته به یې راوړم ؟

ورته مې ووې: بس له دې ښه شی نشته.

هغه په هګیو پسې لاړه ، ما دفتر برابر کړ او چای ته کېناستم.

بوره مې راته واچوله ، پیاله مې ډکوله ، چې هګۍ یې راوړې.

اشپاز له دروازې وتلی وه ، پسې غږ مې کړ: کاریګرو ته ووایهٔ ، چې چای وڅښئ ، دادی زه هم درځم.

سمه ده یې وکړل او لاړ.

چای مې په بیړه ، بیړه وڅښهٔ ، د باندې راووتم ، کاریګر هم په ګدام کې ولاړ وه.

لومړي ولاړ موټروان ته مې غږ ، چې موټر دې ګدام ته به رېورس (شا) راولهٔ.

موټر یې چلند کړ ، شاته ترې تور دودونه پورته شول ښه شېبه یې رېزونه ورکړل او بیا راغی.

په کار مو پیل وکړ.

یو په بل پسې مو تر غرمې ناوخته ټول موټر خالي کړل.

پاتې ورځ مې یې په حسابونو تېره کړهٔ. ماښام ناوخته کور ته راغلم.

کوچنی ورور مې به نغری کې لګیا و ، چې کوټې ته راغلم ، مور مې سر په سره ټوټه تړلی او په کټ کې یې ددیوال خواته بالښت ته تکیه کړي وه.

ورته مې ووې: مورکې ، سر دې درد کوي ، که څنګه دې تړلی دی ؟

هو یې وکړل او بیا یې زیاته کړهٔ: له مازدیګر راهیسې مې دغه تندی خوږیږي ، نه پوهېږم ، چې څه راباندې وشول.

ورته مې وویل: هله راځهٔ ، چې ډاکټر ته دې بوځم.

د دوا پلاستیک یې راوخیست ، بیا مې یې مشر ورور یاد کړ ، چې ډاکټر ته یې بېولی وم ، لږ مخکې راغلو.

په کټ کې یې څنګ ته کېناستم ، ورته مې ووې: سر دې رادېخو کړهٔ ، چې زه یې درته کیکاږم.

نه یې وکړل او بیا زیاته کړهٔ: اوس ښه دی ، قرار شو ، دغه رنجه (سره ټوټه) رانه خلاصه کړهٔ.

په بیړه یې له سر تاوو کړي ټوټه لرې کړه او د د صندوق په سر ایښې مېوې نه مې ورته درې دانې کیلې راوخیستې او ور مې کړې.

کوچنی ورور مې له ترموز سره کوټې ته راننوت.

ورته مې وویل: عابد (مشر ورور) چېرته دی ؟

مور مې ووې: هغه په ډوډۍ پسې تللی دی.

میوند مور ته د چای پیاله ډکه کړه او په مېز یې ورته کېښوده.

لږ وروسته مو مشر ورور له ډوډۍ سره راغی. دسترخوان مو هوار کړ ، مور مې کمپل له ځانه لرې کړه ، ورته مې ووې: مورې ، ته مه راکوزېږه ، همدلته کټ کې به یې وخورې.

مګر ویې نه منله ، لاندې زموږ سره کېناسته.

ډوډۍ مو وخوړه ، مور مې لمونځ وکړ او خملاسته.

د خنګ کوټې ته لاړم ، د نرسې لیک مې راوخیست.

په سر کې یې غټ لیکلي وو:

تاته د تبسم (نرسې) ځانګړی لیک •

بیا یې داسې لیکلی وه: "سلامونه او نېکې هیلې.

خدای د وکړي ، چې د ژوند شپې ورځې دې پخیر تېرېږي.

نه پوهېږم له کومه ځایه او څنګه یې راپیل کړم ؟

له کومې ورځې مې چې مور دې او ته لیدلي یئ ؛ نو ویل به مې ، کاش! موږ سره خپلوان / مو کورونه سره نږدې وای.

ممکن دا خبرې به مې له زړه څخه وې ، چې خدای قبولې کړې او تاسو زموږ ګاونډیان شوئ.

ستاسو راتګ ښار او بیا زموږ د کور څنګ ته که معجزه نه ده ؛ خو ترې کمه به هم نه وي.

له هغه ورځې چې له مور سره روغتون ته راغلی وې ، باور وکړه په ما ډېر ښه لګېږي ، نه پوهېږم څه علت دی.

وخت ناوخت زنګ وکړم ، ستا او د مور پوښتنه دې کوم.

اوس راته لکه د کورنۍ د غړو غوندې یئ او همداسې مې زړه درباندې خوږېږي.

زما یوه ترور په فامیلیو کې اوسېږي ، نن یې  لور زموږ کره راغلې ده ، د طب محصله ده. هغې ته مې ستاسو د راتګ او ژوند کیسه وکړه ، اوس وایي: ورځو ، چې دا خو زه هم ووینم.

له ډېرې مودې راهیسې غواړم ځینې خبرې درته وکړم ؛ خو نشم یې کولای.

تاته چې هر ځلې زنګ کوم ؛ نو د همدې خبرو لپاره وي ، مګر چې زنګ وکړم ، خبرې راځخه ورکې شي.

میاشتې وشوې ، چې زه تاته د زړه خبرو ویلو جرات نشم کولای.

نن مې فکر ته راغلل ، کومې خبرې چې په موبایل / مخامخ نشي کېدای او سختې وي ، باید د لیک په بڼه یې درورسوم.

حیرانه یم ، چې زما په زړه کې ستا په اړه پټ احساس تاته څنګه بیان کړم ؟

دا اوس هم یوازې خدای خبر دی ، چې زه دغه خبرې څومره د زړه له درزا سره لیکم.

که خبر نه وې ؛ خو ناخبره هم نه یې.

په ژوند کې د ځینو کارونو اختیار زموږ په واک کې نه وي. موږ که غواړو یا نه ؛ خو زړه یې غواړي.

ما ددې ټولنې بد رواجونه له هر څه زیاته ځوروي ، چې خدای ورکړی حق له انسانانو څخه اخلي.

دا څومره سخته ده ، چې یو څوک درته ګران وي ؛ خو په ټولنه کې د شته محدودیتونو / بد فرهنګ له امله یې په زړه کې ساتې او هېچاته ویلی نشې ، ځکه قېمت یې مرګ او بدنامي ده.

زه ستا په اړه ډېر خوږ احساس لرم ؛ خو ته به فکر کوې ، چې زه مینه درسره لرم ، هېڅکله نه.

دروازه خلاصه شوهٔ ، مشر ورور مې وه ، لیک مې ژر ټول کړ او جېب ته مې واچوهٔ. هغه وویل: د مور وضیعت ښه نه دی ، یو ځل به ډاکټر ته لاړ شو.

ورخطا شوم ، په بیړه له ځایه پورته شوم ، د مور کوټې ته ورغلم ، په تندي مې یې لاس کیښودهٔ ، سخته تبه یې وه.

ورته مې وویل: مورکې څنګه یې ؟

خبرې یې نشوې کولای ، د لاس په شاره یې پوه کړم ، چې سر مې درد کوي.

مشـر ورور مې له کوټې څخه په وتلو کې وويل: زه د موټر غم کوم ، ته همدلته اوسـۀ او د باندې ووت.

زه د مور تر څنگ په کټ کې کېناستم ، کوچني ورور مې زياته کړۀ: ما ورته ووې ، چې کوټه کې کېنۀ ، مازديگر ناوخته ساړه کې يې جامې مينځلې.

ما چې خبره کوله ، موبايل ته زنگ راغی ، مشـر ورور مې وه ، ويل يې چې دروازه خلاصـه کړئ.

ميوند په بيړه ورغی ، دروازه يې خلاصه کړۀ ، موټر مخته راغی او په کوچني انگړ کې ودارېدۀ.

يوه لور ته زه او بل لور ته مې مشر ورور مور مو راپورته کړۀ ، لاسونه مو يې په اوږو واچول او موټر ته مو يووړه.

کوچنی ورور مو کور کې پريښود او موږ د ډاکټر په روان حرکت وکړ.

هلته چې ورسيدو ؛ نو ډاکټر ته مو وويل: د مور حالت مو خراب دی ، له موټر نشي راښکته کېدای. د باندې راسره راووت او په موټر کې يې وکتله ، بيا يې وويل: د تشـويش وړ نه ده ، لږ يې فشار ښکته شوی او تبه يې ده ، ان شاءالله ښه به شي.

بېرته خپل ځای ته لاړ ، دوه دانې گولۍ يې راکړې ، چې اوس دې يې وخوري او نور يې راته دوا وليکله ، بيا يې ووې: لږ يې چې تبه ارامه شي ، پېچاري ورته وکړئ.

له څنگ دواخانې مو دوا واخيسته او بېرته کور ته راغلو.

مور مې په کټ کې څملاسته او موږ ناست وو.

شېبه په شېبه به مو يې حالت کاته ، نيم ساعت وروسته خوب يوړه.

لاس مې يې ونيوۀ ، سوړ وه ، تبه يې پرې شوې وه.

موږ هم هملته په توشکو وغځېدو.

سبا سهار مې مشر ورور اوبه گرمې کړې وې او غبړ يې وکړ.

مور مې له ځايه پورته شـوۀ ، ورته مې وويل: که نشـې پورته کېدای ؛ نو همدلته يې کټ کې وکړۀ.

ويل يې ، نه اوس ښه يم.

لمونځونه مو وکړل. کوچني ورور ته مې ووې: ته پيالې ومينځه ، زه به چای وکړم.

مشر ورور مې وويل: چای زه کوم ، ته مور ته له هټۍ (دوکان) څخه شيدې راوړهٔ.

سـمه ده مې وکړل او راووتم. د کوځې په بر سـر کې مې کورنۍ شـيدې پيدا کړې او کور ته راغلم.

دوی چای کړی وه. شيدې مې ګرمې کړې او په مور مې غړ وکړ.

له چای څښلـو وروسـته مې د شرکت مالک ته زنګ وکړ ، د مور له ناروغۍ مې ورته ووې او نن مې د پاتې کېدو اجازه واخيسته.

مالک وويل: سـمه ده ، کومه خبره نه ده ، که پيسـې / موټر دې په کار وي ؛ نو له دفتر يې درسره واخلهٔ.

مننه مې وکړهٔ ، بيا مې ورته وويل: اوس مې نه دي په کار ، چې اړتيا شي ؛ نو را اخلم يې.

مکسد شرم به نه کوې يې ووې او اړيکه مو پرې کړهٔ.

ټوله ورځ په کور کې وم ، د مور مې تبه ختمه شوي وه او حالت يې عادي و.

د شپې چې د خنګ کوټې ته لاړم ؛ نو د تبسم پاتې ليک مې د لوستو لپاره راواخيست.

- : دا مې ځکه وليکل ، چې مينه نه درسره لرم ، تا زه د خپل وجود حصه بولم ، له مينې هم رانېردې يې.

غواړم ووايم ، چې زما په هر قدم کې راسره مل يې ، د ذهن په دنيا مې ناسـت يې او همدا تا همېش يادوم.

څو ځلې ليدل او زنګ وهلو کې سـتا سـوړ چلند راته له مرګه کم نه و ؛ خو ممکن ته به رينښتيا نه پوهېدې ، چې زه مينه درسره لرم.

ددې خبرو لپاره مې ډېر لوی زړه کړی دی.

بيا يې وايم ، ته زما د ژوند برخه يې ، زه هغه الفاظ نه لرم ، چې تا سره خومره مينه لرم.

نور ليک نه اوږدوم. زما د ارمانوتو نړۍ ، زه به ستا مثبت ځواب ته منتظره وم.

زما لپاره په ځان پام کوهٔ.

نور درته دې ځان غوندې ښکلی او خوشاله وخت غواړم.

لاندې برخه کې یې زړه رسم کړه و او په انګلیسي یې لیکلي و: مینه درسره لرم ، ستا تبسم.

هک حیران شوم ، چې اوس څه وکړم!؟

یو ځل به مې هیله ذهن ته راغلهٔ او بیا به مې د نرسې په لیک نظر تېر کړ.

هغه د پاڼې او پړانګ تر منځ ګیر کېدل وو.

له ځان سره مې ووې: له تبسم به بخښنه غواړم او ورته به وایم: زه مینه لرم ، نه غواړم تاته بېځایه وعدې درکړم او په دروغو د په طمع کړم.

بیا به مې چې په لیک کې د هغې خبرو ته وکتل ؛ نو له خپلې پرېکړې په شا شوم.

داسې تصمیم مې ونیوه ، چې زه به اوس د لیک ځواب نه ورکوم ، که یې بیا دغه خبره یاده کړهٔ ؛ نو هر څه به رېښتیا ورته وایم ، چې د هغې زړه هم مات نشي او زما سره د مینې هیله هم ونه ساتي.

زه په همدې چورتونو کې وم ، چې د نرسې زنګ راغی ، زړه مې بې واره ټوپونه شروع کړل.

اوکې مې نه کړ.

څو پرلپسې زنګونه یې وکړل ؛ خو ځواب مې ورنه کړ.

بیا مې هیله په زړه کې راوګرځېده ، چې له پرون راهیسې مو سره خبرې نه دي کړي ، سهار یې نه موبایل پورته کړ او نه یې بیا زنګ ووههٔ.

له ځایه پورته شوم ، د مور له کوټې مې ترموز راوړ او ځان ته مې د چایو پیاله ډکه کړهٔ.

موبایل مې راواخیست ، هیلې ته مې زنګ وکړ ؛ خو بیا یې هم پورته نه کړ.

څو وارې مې بیا زنګونه وکتل ؛ خو هماغه خبره وه ، ځواب یې نه راکاوهٔ.

تلوسه مې شوهٔ ، وټساپ مې راخلاص کړ ، هلته هم افلاین وه.

اندېښنه مې نوره هم زیاته شوهٔ ، له ځان سره مې ووې: هیله خو هېڅکله داسې نه کوي ، دا څنګه خبره ده؟

د شیطان وسوسې شوې ، که تبسم څه ورته ویلي وي یا یې هغه لیک لیدلی وي. بیا مې له ځان سره ووې ؛ نه په هغه شپه خو ورسره وغږېدم ، هېڅ خبره هم نه وه.

چای مې یخ شـوی و ، هغه مې توی کړ ، بیا مې تازه پیاله راته ډکه کړهٔ ؛ خو هیلې مې ذهن خراب کړ.

موبایل یې هم نه دی بند ؛ نو ولې یې نه پورته کوي ؟ بیا مې ډېر چورت ووهه ، چې ما خو داسې کوم کار/ خبره نه وي کړي ، چې هغه پرې خپه شوي وي ؛ خو زهن ته مې څه رانغلل.

چای مې وڅښـهٔ ، ترموز او پیاله مې د کټ لاندې کړل ، کړکۍ مې راخلاصـه کړهٔ ، نږدې مې بالښت ته تکیه وکړهٔ.

کوټې ته یخه هوا راننوته ، د باندې مې وکتل ، غرونه ، غرونه وریځې د جنوب خواته روانې وې. د اسمان ډېره برخه وریځو نیوله وه ؛ خو ځای ، ځای ستوري ښکاره کېدل.

ساړه مې وشو ، کړکۍ مې بېرته بند کړهٔ او کټ ته لاړم.

هیلې ته زنګ او وټساپ مې یې وکاتهٔ ، هماغه زړه خبره وه.

موبایل مې د بالښت لاندې کړ او اوږد وغځېدم.

له ځان نه مې همدا پوښتنې کولې: په هیله څه وشول ؟ ولې زنګ نه پورته کوي ؟ له ما خپه ده او که کومه بله ستونزه ده ؟

کله په یو لټ او کله په بل کټ اوښتم ، تر ناوخته مې خوب تښتېدلی و.

بیا مې وټسـاپ کې ورته مسـېجونه وکړل: څه شـوي ؟ ولې زنګ نه پورته کوې ؟ ته خو ښـه یې ؟

د هغې ځواب نه وه ، دغه ټپه مې ورته ولیکله:

د ستا به هېر که به دې یاد وم

ماته د ستا له غمه نه راځي خوبونه

نور مې وټساپ بند کړ.

نه پوهېږم څو بجې به وې چې خوب وړی وم. سهار چې راپورته شـوم ؛ نو لومړی مې موبایل وکاته ، چې ګوندې هیلې به زنګ وهلی وي ؛ خو نه.

بیخي ځمکه راپورې اور شــوه ، نه پوهېدم ، چې اوس څه وکړم او څوک به یې معلومات راکړي ؟

چای خوند نه راکاوهٔ ؛ خو د مور له خاطره مې وڅښهٔ او زړه نیولی کار ته روان شوم.

په لاره مې تر کار ځای پورې ځو ځلې د هیلې شمېرې ته زنګ وکړ ؛ خو ځواب نه و.

اندېښنه مې له یوې شېبې بلې ته زیاتېده.

نه پوهېږم شرکت ته څنګه راغلم ؟

لګیا په کار کې وم ؛ خو فکر مې له هیلې سره و.

بیخي کنګس وم ، لار راڅخه ورکه وه ، چې اوس څه وکړم ؟

حیران وم ، چې په هیله څه وشول ؟ ولې ځواب نه راکوي ؟ ولې یو ناڅاپه داسې شوه ؟

فکر مې هېڅ پر ځای نه و ، تر غرمې پورې مې څو ځلې د کار حسابي غلطۍ کړې.

یو ځل مې پرېکړهٔ وکړهٔ ، چې نرسـې ته زنګ وکړم او د هیلې پوښـتنه ترې وکړم ؛ خو بېرته پېښمانه شوم.

ځکه دا به په لوی لاس ځان ته لانجه جوړه کړم.

مازدیګر نږدې و ، چې د شرکت مالک راته وویل: په کابل کې ځینې موټر ګمرک نیولي دي ، باید په وخت یې غم وخورو ، کنه خبره به بیا سخته شي.

پوه شوم ، چې زما د ورتګ نیت لري ؛ نو ورته مې ووې: زه به ورشم.

ناوخت هم دی یې ووې او بیا یې زیاته کړهٔ: خپل موټر او پیسې درسره واخلهٔ.

پیسې مې واخیستې ، سره د مالک د ډېر ټینګار چې خپل موټر بوځهٔ ؛ خو ما په بل موټر کې د تګ تصمیم ونیوه.

له شرکت مې رخصت واخیست او کور ته راغلم.

مور ته مې د کابل تګ ووې.

هغې راته وویل: زویه ، اوس خو ناوخت دی ، سبا به لاړ شې.

ځواب مې ورکړ ، چې مورکې ، هېڅ خبره هم نشته ، ضروري کار دی ، سبا سهار وختي باید هلته موجود وم.

اجازه مې ترې واخیسته او له کور راوواتم.

په بيړه مې ځان د کابل هډې (موټرو ځای) ته ورسوځ.

هلته هر موټروان خپل موټر ته کشـولم او دا خبره يې کوله ، چې کرايه کمه ده ، موټر ډک دی ، دا چې ناوخت و ؛ نو د ټوډي موټر مخکې سېټ (چوکۍ) مې ونيوه ، تر څو ژر ورسېږم.

په څو شېبو کې موټر ډک شوو د سفر دعا مو وويله او حرکت مو وکړ.

لږ وړاندې مو د سرک په غاړه جومات کې د سفر لمونځونه وکړل او له دوکان مو ځينې شيان واخيستل او بيا روان شو.

موټروان د منګل او نغمې هغه ټېپ ولګولې:

مينه دې وکړه او بيا لاړې

لکه مرغۍ چې ځاله جوړه کړي ترې ځينه

له شاته کسانو څخه يوه د ستر عمر کس موټروان ته وويل: ته لږ اواز ورکړه ، دا خو ډېره ښه سندره ده.

موټروان په خندا ورته ووې: حاجي صيب ، تاسـو دغه پخواني خلک د نغمې سـندرې ډېرې خوښوئ ، ولې ؟

د عمر په لحاظ سـتر سـړي چې مخ يې ټول له ويښـتانو ډک و ، دوې ګوتې خولې ته دننه کړې ، د نصوارو غونډاره يې د باندې وګرځوله او بيا يې ووې: دا خو زموږ د وخت سندرغاړې دې او نور يې موږ ته څو خاطرې بيان کړې.

تر ډېره په همدې موضوع بحث روان و.

د مازديګر لمن ټولېدونکې وه ، د غرونو خواته د لمر سـورخي ښـکاره کېده او موټر ښـه په سرعت سره مزل کاوه.

له ماښـام لمونځه وروسـته چې مو مزل شـروع کړ ؛ نو خوب راغی ، سر مې په چوکۍ کيښـود او دسمال مې په سترګو واچوه ، کله ويده او کله ويښ.

په پکتيا کې موټروان وويل: ډوډۍ خورئ او که ځو ؟

د ټولو نظر دا وو ، چې ځو ، ډوډۍ به کابل کې وخورو ، ونه ډارېدو هماغسې مو مزل کاوه ، ما بېرته سر کيښود.

خوب وړی وم ، چې يو ناڅاپه ټنګ شو او نور په ځان پوه نه شوم.

یو وخت چې مې سترګې وغړولې ، لکه له خوب چې راویښ شوی وم ، ډاکټران راته ولاړ وو ، بیخي ګنګس وم ، نه پوهېدم چې چېرته یم.

سر مې سخت درد کاوهٔ.

د پورته کېدو هڅه مې وکړهٔ ؛ خو ډاکټر ژر راوړاندې شــو او راته یې ووې: پورته کېږهٔ مهٔ ، سیروم خطا کوې.

زما څنګ ته ولاړ کس ته مې وویل: په ما څه شوي دي او زه دلته چا راوړی یم ؟

هغه ځواب راکړ: ته ارام اوسهٔ ، هېڅ خبره نشته.

ځان ته مې وکتل ، جامې مې ټولې په وینو وې ، په لاس کې مې کانوله وه ، سـر او پښــه مې پټۍ شوي وو.

هیله مې په ذهن کې راوګرځېدهٔ ، ژر مې جېب ته لاس کړ ؛ خو هېڅ شی نه وو.

مخامخ ولاړ ډاکټر ته مې وویل: زما موبایل څه شو ؟

هغه نه یم خبر ووې او لاړ.

په سترګو مې تیاره راغلهٔ ، په ځان پوه نه شوم ، بېرته بې هوشه شوی وم.

یو وخت مې په پښه کې سخت درد محسوس کړ ، چې سترګې مې وغړولې ؛ نو ډاکټر راباندې لګیا وو.

ورته مې وویل: ډاکټر صــیب ، څه کوئ؟ پښــه مې ډېر درد کوي. ځواب یې رانکړ ، یوه پېچاري یې راته وکړه.

لږه شېبه وروسته یوه ډاکټر راته ووې: اوس خو درد نه کوي ؟

نه مې وکړل او بیا مې د ساعت پوښتنه وکړه ، چې څو بجې دي ؟

یو کس راته وویل: سهار نږدې دی.

پښه او سر مې ډېر ژوبل وو ، ټول بدن مې سخت درد کاوه.

څو ځلې مې د خپل موبایل پوښتنه وکړهٔ ؛ خو چاته معلوم نه وو.

د سهار اته بجې به وې ، چې یوه ډاکټر ته مې وویل: زما سره هېڅوک هم نشته او نه څوک خبر دي.

هغه وویل: د کورنۍ کوم غړي نمبر لرې ؟

د شرکت مالک نمبر مې ورکړ.

لږه شېبه وروسته یې راته وویل: تا چې کوم نمبر راکړ ، هغه کس مو خبر کړ.

ښه مې وکړل او ډاکټر راته یوه بله پیچاري وکړه ، لږ وروسته بیا خوب وړی وم.

نه پوهېږم څو بجې وې ، چې له خوب راویښ شوم ، د شرکت مالک او دوه نور کسان مې د کټ تر څنګ ناست وو.

د پورته کېدو هڅه مې وکړه ؛ خو مالک ونیوم ، چې ارام وکړه.

بیا یې پوښتنه وکړه: اوس دې وضیعت څنګه دی ؟

ورته مې وویل: اوس ښه یم.

سـمه ده ، تشـویش مه کوه ، یې وکړل او بیا یې زیاته کړه: امبولانس راځي ، ما خبره کړې ده ، کابل کې به د ملي امنیت دولتي شفاخانې ته لاړ شـوو ، هلته ډېر ښـه خارجي ډاکتران دي.

ما ورته د همدلته پاتې کېدو وویل ، خو هغه شله و ، چې یو ځل هلته ځو.

ورسـره مې ومنله او بیا مې ورته ووې: زما موبایل ورک شـوی دی ، کور کې به د مور دوی تلوسه وي ، چې یو زنګ ورته وکړم.

په بیړه یې موبایل راکړ.

کوچني ورور ته مې زنګ وکړ ، له اوکې سره مې سلام وکړ.

ځواب یې راکړ او سمدستي یې وویل: الهامه چېرته یې ؟ د ماښام راهیسې زنګ درپسې نه کیږي ، ولې دې موبایل بند دی ؟

ورته مې ووې: موبایل رانه ورک شوی دی ، بېګا ناوخت راورسیدم ، څوک نه وو ، چې زنګ مې درته کړی و.

موبایل مور ترې واخیست او راباندې یې غږ کړ: څوک داسې کوي ، ټوله شپه مې سترګه نه ده پټه کړې ، ما ویل چې څه درباندې وشول.

ورته مې وویل: مورکې ، موبایل رانه ورک شوی دی ، د شپې ناوخت و ، چې راورسیدم.

مور مې لکه راباندې پوهېدلې چې وي ، په حيرانۍ ووې: زويه ، اواز دې داسې بل رقم دی ، څه شی خو درباندې شوي نه وي ؟

په بيړه مې ځواب ورکړ: نه مورکې ، نه پوهېږم تاته څنګه اواز بدل ښکاري او بيا مې زياته کړه: اوس مې کارونه دي ، بيا ان شاءالله زنګ سره کوو.

ښه ده زويه ، پام کوه ، يې وکړل او خدای په اماني مو وکړه.

موبايل مې بېرته مالک ته ورکړ.

لږ وروسته يو کس راغی او مالک ته يې وويل: امبولانس تيار دی ، مريض پورته کوو.

سمه ده يې ورته وکړل ، يو کس تذکره (د مريضانو کټ) ماته نږدې راوسته ، زه يې په څو کسانو ور پورته کړم او د باندې يې ولاړ امبولانس ته يووړم.

مالک ته مې وويل: ستا به کارونه وي ، زه به مشر ورور ته زنګ ووهم ، هغه به راشي.

هېڅ کار نه لرم يې ووې او بيا يې زياته کړه: کور تر هغه مه خبروه ، چې لږ دې حالت ښه شوی نه وي.

ما ډېر ټينګار وکړ ؛ خو ويې نه منلهٔ.

د موبايل ورکېدو او هيلې زنګ ته مې اندېښنه وه.

له ځان سره مې ويل: په هغې څه شوي نه وي. ولې يې موبايل نه پورته کاوهٔ ؟ که زما نمبر ته يې زنګ کتلی وي ، هغه خو بند دی. په ډېره لاره مې خپل دردونه هېر وو ؛ خو د هيلې په اړه مې سوچونه کول.

له دوو ساعتونو وروسته دولتي شفاخانې ته راورسيدو. عسکرو موټر ودراوهٔ او پوښتنې يې کولې.

د شرکت مالک ورسره لګيا وو ، نيم ساعت به ولاړ وو ، بيا يې د سختې تلاشي کولو وروسته داخل ته د ننواتو اجازه راکړهٔ.

ډاکټران تر امبولانس راغلل ، زما وضيعت يې وکاتهٔ او بيا يې ښکته کړم ، يوې خونې ته يې يووړم.

د پټۍ شـوي ځایونو سـربېره یې زما ټول بدن وکاتهٔ او بیا یې ووې: د تشـویش وړ نه ده ، هډوکو او سـرته یې کوم زیان نه رسیدلی ، دا زخمونه ژر د جوړېدو وړ دي ؛ خو دوه ورځ یې همدلته بستر کوو ، چې زموږ د نظارت لاندې وي.

خوشاله شوم ، له ځان سره مې وویل: شکر دی ، چې هډوکي او سر مې روغ دی ، دا دردونه به خدای تېر کړي.

مالک ته مې وویل: هلته شرکت همداسې پاتې دی ، کارونه دي ، زه ورور ته زنګ کوم ، هغه به راشي ، ته لاړ شهٔ.

ځواب یې راکړ ، شرکت کې مې ورور شته ، تا دې خدای جوړ کړي ، دې خبرو ته تشویش مه کوهٔ.

بیا مې موبایل ترې واخیسـت او مشـر ورور ته مې زنګ وکړ: ټول جریان مې ورته ووایهٔ ، په اخېر کې مې دا خبره ورته وکړهٔ ، چې بیا لږ وروسته مالک ته زنګ ووهٔ ، چې زه درځم ته د خپلو کارونو ته لاړ شهٔ

ډاکټر راغی یوه ګولۍ یې له اوبو سـره راکړهٔ او بیا یې راته ووې: ارام ته اړتیا لرې ، لږ ارام وکړهٔ.

لکه د ګولۍ تاثیر چې وي ، سر مې دروند شو او په څو شېبو کې ویده شوی وم.

نه پوهېږم څه وخت و ، چې سترګې مې وغړولې.

ډاکټر راته وویل: ته لاس راکړهٔ ، راپورته شهٔ ، د باندې لمر ته لږ وګرځهٔ.

د هغه په مرسته راپورته شوم او له کوټې څخه راووتم.

شاوخوا مې وکتل ، له دورازې سره نږدې یو کس چې دواړه پښې او یو لاس یې نه و ، لمر ته په بایسکل کې ولاړ و.

پخپل حالت مې شکر وباسهٔ او په قرار ، قرار مې په چمن کې قدم وههٔ.

تر ناوخته هملته ګرځم ، چې مالک له باندې څخه راننواته او راته یې وویل: ورور دې زنګ کړی و ، راغلی دی ؛ خو دلته د راتګ لپاره له یو کس څخه زیاتو ته اجازه نشته.

ورته مې وویل: هغه چې راغلی وي ؛ نو تاته اجازه ده ، ان شاءالله اوس ښه یم.

د پاتې کېدو ټینګار یې کاوهٔ ؛ خو بلاخره مې تګ ته قانع کړ.

ورور مې راغی ، مالک پیسې راکړې او لاړ.

مشر ورور مې مور ته بهانه کړې وه ، چې څو ورځې په ولسوالۍ کې د موسسې کارونه دي ، هملته پاتې کېږم.

دوه ورځې په روغتون کې لکه د کال راباندې تېرې شوې.

ډاکټرانو دوا راکړۀ او رخصت یې کړم.

اوس مې حالت بیخي ښه وه ، په سر او پښه مې پټۍ وې ؛ خو دردونه مې ورک وو. ورور ته مې ووې: ځو ، هلته مورکه دوی هم یوازې دي او تلوســـه به یې وي. تر اډې په دولتي امبولانس کې راغلو او بیا مو موټر ونیوۀ. تر سترې مزل وروسته غرمه ناوخته د کور مخې ته ښکته شوو ، چې کور ته ننواتم ؛ په برانډه کې مور ولیدم ، هکه حیرانه شوه ، په ورخطایۍ یې په غېږه کې ونیوم او راته ووې: زویه ، دا ولې ؟ تا خو ماته ویل ، چې موبایل مې ورک دی ؟ څه درباندې شوي دي ؟

په کوټه کې نور څوک هم وو ، هغوی هم زما د مور په خبرو پســې له کوټې څخه د باندې راووتل ، چې ومې کتل ، د ګاونډیانو ښځې وې.

نرســه مې مخې ته ودارېدۀ او په ناپامۍ کې یې راته وویل: په تا څه شــوي دي ؟ بیا یې پام شو ، ژر د مور شاته شوه.

څه مې ونه ویل.

مور په داسې حال کې ، چې له سترګو یې اوښکې روانې وې ، ټینګ په غېږ کې نیولی وم او دا خبره یې کوله ، دا چا او ولې ؟

په لاسونو مې ښکل کړۀ او ورته مې ووې: مورکې ، هېڅا هم نه ، دادی روغ یم ، موټر راپسې ټکر وکړ ، د خدای شکر دی دومره نه یم خوږ شـوی ، بیا مې خبره وغځوله: ژاړۀ مۀ ، شکر وباسۀ ، چې لاسونه او پښې مې نه دي مات شوي ، که مړ وی ؛ نو څه وس مو رسېده.

مشر ورور مې ورته وویل: ځان مه لېونی کوۀ ، د خدای کارونه دي ، که اوس ډېر خوږ شـوی و ، بیا مو له وسه څه پوره وو ؟

د تبسم مور راوړندې شوه او مور مې یې له اوږې څخه ونیوه او ورته یې ووې: شکر وباسۀ ، دادی روغ دی ، له ژړا څه نه جوړیږي ، کوټې ته راځۀ ، هلک مو اوس دلته ودرولی ، سر یې خوږ دی.

موږ يوې کوټې او نرسه دوی بلې کوټې ته لاړل.

لاندې کېناستم ؛ خو د تبسم مور راپورته شوۀ ، له لاس يې ونيم ، چې کټ کې کېنۀ.

ورته مې ووې: همدلته کېنم ، اوس ښه يم ؛ خو هغې په زور پورته کړم.

مور مې مشـر ورور ته مخ ورواړوۀ ، ورته يې وويل: چې څه پېښـه شـي ؛ نو تاسـو ما خبروئ ولې نه ؟

هغه بله ورځ چې تلې ماته دې په دروغو ووې ، چې ولسوالۍ ته ځو.

مشر ورور مې ځواب ورکړ: اول زه هم نه وم خبر ، وروسته د شرکت مالک راته ووې ، بل که ته خبره شې ؛ نو څه شی به وکړې ، همدا چې کور په سر واخلې.

زه يې په خبرو کې ورولوېدم: موږکې ، د شرکت مالک خبر شوی و ، خدای دې خير ورکړي ، په بيړه يې ځان راورسوۀ ، بيا يې کابل ته يووړم او بل هلته دولتي شفاخانه وه ، له يو کس څخه زياتو ته اجازه هم نه ورکوي.

د شرکت مالک خو عابد هم نه خبروۀ ، بيا ما پټ زنګ ورته ووهۀ.

مور مې له جېب څخه ټول کړی د سـلو افغانيو لوټ راوويسـت او کوچني ورور ته مې يې وويل: هله څه شی به يې نه وي خوړلي ، يو کيلو منې او شيدې راوړۀ.

ورته مې وويل: هر څه مې خوړلي دي ، هغه زما په پلاستيک کې اوس هم مېوۀ شته.

د تبسم مور له ځايه پورته شوۀ او مور ته مې يې ووې: ته همدلته کېنۀ ، زه مې لوڼو ته وايم ، چې ډوډۍ ورته تياره کړي.

ورته مې ووې: خوند نه راکوي ؛ خو هغه له کوټې ووائۀ.

مور د ټکر پوښتنه وکړۀ ، چې څه ډول موټر ټکر ورکړ ؟

ما يې کيسـه ورته کوله ، چې د نرسې مور له پتنوس سـره راننواتۀ ، کوچنی ورور مې ورپورته شـو ، پتنوس يې ترې واخيسـت او ماته د ايښـي مېز پر سـر يې ترې يوه لويه او بله کوچنۍ کاسۀ کېښودۀ.

کاسو ته مې وکتل ، په شيدو کې يې ډوډۍ واړه کړي وه او په بله کې کورني کوچ و.

ورته مې وويل: ترورې ، هسې دې ځان په تکليف کړ ، ډوډۍ ته مې زړه نه کېدۀ.

هغې ووې: زويه ، ځان مور کۀ ، بيا به دوا خورې.

له پښو مې کمپله لرې کړۀ او ډوډۍ ته کېناستم.

مور مې مشر ورور ته وويل: ته هم ورسره کېنۀ ، ډېره ده.

هغه څه ويل ، چې د نرسې کوچنۍ خور له بل پتنوس سره راننواته او د مشر ورور مخې ته يې کېښود.

ډوډۍ مو وخوړۀ ، د لمانځه لپاره پورته شوو.

د شرکت مالک څو ځلې زنګ وکړ او پوښتنه يې کوله.

ورته مې وويل: اوس بيخي ښه يم ، راغلی يم کور ته.

ورځ تېره شوۀ ، نرسه دوی ماښام ناوخت لاړل.

ستړی وم ، د دوا تاثير به هم وو ، د شپې وختي خوب راتله ، لږ څه مېوه مې وخوړه او نور څملستم.

سهار ګاونډيانو شيدې راليږلې وې او له لمر ختلو وروسته دوی هم راغلې.

کوچني ورور ته مې پيسې ورکړې او ورته مې ووې: شايد نن مېلمانه راشي ، وختي لږ سودا راوړۀ.

سمه ده يې وکړل او له ځايه پورته شو لاړ.

عابد وويل: زه خنګه وکړم ، پاتې شم ؟

ورته مې وويل: نه ، ولې پاتې کېږې ، څه شی شته ، دندې ته لاړ شۀ.

پورته شو زه به لاړ شم يې ووې او بيا يې زياته کړۀ: وختي راځم ، که کومه خبره وه ؛ نو زنګ راته کوئ ، له کوټې ووت.

لږه شېبه وروسته مې له مور سره د تبسم مور کوټې ته راننواتۀ او راته يې ووې: خنګه يې ؟ خوب دې وکړ ؟

ځواب مې ورکړ: شکر دی ، اوس خو بيخي ښه يم ، ښېګا چې څملستم ؛ نو تر سهاره په ځان پسې نه يم خبر شوی.

تر ډېره هملته ناستې وې او بیا مې مور دوا راکړهٔ ، راته یې ووې: دا وخورهٔ ، نور لږ ارام وکړهٔ ، مور بلې کوټې ته اوړوو.

دوی لاړې ، ما چې دوا وخورهٔ ؛ نو هیله مې ذهن ته راغلهٔ ، حیران وم ، چې ښنګه او له چا یې پوښتنه وکړم!؟

که یې زنګونه راته وهلي وي ؛ نو زما خو موبایل بند دی.

ښه شېبه مې همدا پوښتنې له ځان څخه کولې ، چې دروازه خلاصه شوهٔ ، ور ومې کتل ، نرسه وه.

حیران شوم او زړه مې درزا شروع کړهٔ.

هغې غلي ووې: ښنګه یې ؟

ښه یم ځواب مې ورکړ.

یو ځل یې د باندې وکتل او بیا د کټ خواته نږدې راغلهٔ ، د زړه درزا مې نوره هم زیاته شوهٔ.

د کټ ښنګ ته مې وداربېده زیر ، زیر یې ماته کتل.

په سترګو کې یې اوښکې غوټه شوې او لاندې توی شوې ، د ټیکري په پیڅکه یې اوښکې وچې کړې او بیا یې راته ووې: په داسې حال دې نشم لیدای ، ښنګه د رنګ ژېړ دی.

زړه مې پرې وسوځېده ، ورته مې وویل: تشویش مه کوهٔ ، ان شاءالله اوس بیخي ښه یم.

جېب ته یې لاس کړ ، یو پاکټ یې پر مېز کېښود او بیا یې راته ووې: دغه وګورهٔ ، ځان ته پام کوهٔ.

غاړه د بنده چې څه ضرورت و او ماته به زنګ نه وهې.

مننه مې وکړهٔ او هغه بېرته لاړه.

د نرسې خبرې او چلند مې په زړه مې خوږ ولګېده.

له مېز مې پاکټ راواخیست ، چې خلاص مې کړ ؛ نو سل ډالر پکې و.

حیران شوم له ځان سره مې وویل: له هغې سره به هم نه وي ، زنګ به ورته کوم او بېرته به یې ورکوم.

ډېره شېبه مې د هغې پر اوښکو ، خبرو او پیسو فکر کاوهٔ ، چې مور مې کوټې ته راننواته.

ځان مې په خوبولي واچوهٔ ، ځکه هغې ماته د ارام ویلي و او زه ویښ وم.

له کوټې څخه يې څه شی واخیستل ، بېرته لاړه.

د ویده کېدو هڅه مې وکړه ؛ خو خوب نه راتهٔ ، هیله مې په ذهن کې راګرځېده.

له کټ څخه راپورته شوم ، د کوټې دروازه مې بند کړهٔ ، کړکۍ ته نږدې کېناستم او د باندې لور ته مې کتل.

نرسه د نالکۍ لور ته راغلهٔ ، اوبه يې اخیستې ، چې زنګ ورته راغی.

ماته يې پام نه و ، چې ګورم يې. موبایل يې راوخیست ، غوږ ته له نیولو سره سم يې وویل: هیلې سلام.

حیران شوم ، د سوچونو په سمندر کې مې ځان ډوب کړ ، زما هیله به وي ، که بله ؟

له ځان سره مې وویل: همدا ده ، ځکه دوی سره خپلوان دي.

بیا مې نرسې ته پام واړوهٔ ، هیلې ته يې ویل: "له ګاونډیانو کره راغلې یم ، هغه یو کس يې تکر کړی و ، چې کور ته لاړم ؛ نو زنګ درته وهم"

ورخطا شوم ، چې اوس خو به د هیلې زړه وچوي.

نرسې موبایل بند کړ او بېرته کوټې ته لاړه.

مور ته مې غږ وکړ ، چې راغلهٔ ؛ نو د کوچني ورور پوښتنه مې ترې وکړهٔ ، چېرته دی ؟

مور مې ووې: دوکان ته مې ولیږهٔ ، راځئ ولې څه دې پرې کول ؟

ورته مې وویل: موبایل مې پکار دی ، چې راشي ؛ نو ورته ووایهٔ ، الهام دې غواړي.

څو دقیقې وروسته میوند کوټې ته راغی او راته يې وویل: مور وې ، چې غواړې دې.

هو مې وکړل او بیا مې ورته ووې: موبایل دې ماته راکړهٔ ، پکار مې دی.

له جېب مې پیسې راواخیستې او په دې نیت مې ده ته ورکړې ، چې دی به دوکان ته لاړ شي او زه به هیلې ته زنګ وکړم.

هغه چې لاړ ؛ نو د هیلې نمبر مې پکې ووههٔ ، زنګ مې ورته وکړ ، ورتېر شو ؛ خو پورته يې نه کړ.

ژر مې لنډ لیکلی پیغام ورته ولیږهٔ: الهام یم ، موبایل پورته کړهٔ.

هغې زنګ راووهځ ، له اوکې سره سم يې وويل: تا ټکر کړی دی ؟

ورته مې ووې: دا پرېږدځ ، زما خو دې زړه وويست ، دغه دومره موده چېرې وې ؟ ولې دې موبايل نه پورته کاوځ ؟

هغې ووې: الهاموو سم قيامت راباندې تېر دی ، زنګونه دې کړي وو ، موبايل رانه کور کې پاتې و او زه روغتون کې نوکري وم ، بيا مې زنګونه درته کول ، نن څلورمه ورځ ده ، چې موبايل دې بند دی.

خيرت دی ؟ تا ټکر کړی ؟

ورته مې وويل: نه ، زما بل ورور کړی دی.

په غوسه ناک انداز يې ووې: بيا ستا نمبر ولې بند دی ؟

له ځان سره مې وويل: بيا هم خبرېږي ، راځځ ريښتيا ورته ووايځ ؛ نو ټوله کيسه مې ورته وکړځ..

ښه شېبه غلی وه ، بيا يې په ژړاغونی اواز زياته کړځ: الهاموو ما دې خدای مړه کړي ، تا ټکر کړی و ، ما فکر کاوځ ، چې زما څخه د موبايل بند دی.

اواز دې هم بدل دی ، لکه چې ډېر خوږ شوی يې ، اوس دې حالت څنګه دی ؟

زه ولې خبره نه يم ؟

ورته مې وويل: زما لېونۍ هيلو ، ارامه اوسځ ، دومره نه يم خوږ شوی ، موبايل رانه په ټکر کې ورک شوی دی ؛ نو ځکه بند دی.

دا مې اوس د کوچني ورور له نمبر څخه درته زنګ ووهځ.

هغې بيا وويل: ته زخمي وې ، زه خپله ارامه ګرځم او ارام خوبونه مې کول. خبره يې وغځوله: ماته دروغ وايې ، ته لکه چې زيات خوږ شوی يې او ماته نه وايې ، ريښتيا خبره راته وکړځ.

په خندا مې ځواب ورکړ: اې زما ښکلې ، ريښتيا درته وايم ، اوس بيخي ښه يم ، دوه ورځې کابل کې يوه دولتي شفاخانه کې وم ، پرون خپل کور ته راغلم.

په حيرانۍ يې راته ووې: ته دومره خراب وې ، چې کابل ته يې وړی وې ؟

ورته مې وويل: کابل ته روان وم ، په لاره کې راپسې موټر ټکر شو ؛ نو هملته نږدې يې وړی وم او بيا مې خبره وغځوله: هيلووو موبايل مې له ورور څخه اخيستی دی ، هغه اوس راځي ، نن خپل نمبر اخلم ، ان شاءالله بيا زنګ درته کوم.

سمه ده يې وکړل او بيا يې زياته کړه: سبا د جمعې ورځ ده ، زه درځم.

خدای په اماني مو وکړه ، اړيکه مو پرېکړه.

مشـر ورور ته مې زنګ وکړ ، چې يو سـاده موبايل او نمبر راته راوړه. هغه وويل: له کار چې رخصت شوم ؛ نو درته به يې واخلم.

سمه ده مې وکړل او موبايل مې بند کړ.

ماښام چې راغی ، موبايل او نمبر يې راوړي وو.

د شـپې مې چې ډوډۍ وخوړه ؛ نو له ځان سـره مې فکر وکړ ، چې هيله له نوي نمبر څخه زنګ نه اخلي ، پيغام مې ورته وليږه: دغه زما نمبر دی. دوا خورم ويده کېږم ، سـبا بيا زنګ سره کوو.

له دوا خوړلو وروسته مې سر راباندې دروند شو ، څو دقيقې وروسته د خوب ملګری وم.

سهار چې راپورته شوم ؛ نو له چای څښلو وروسته مې مور مشر ورور ته ووې: په کور کې خو هېڅ شی نشته او بيا يې زياته کړه: ښېګا مو ترور زنګ کړی و ، ويل يې ، چې زموږ کره راشه. ورته مې وويل: الهام ټکر کړی دی ، مېلمانه راځي ، نشم درتلی.

هغه خبره نه وه ، نن به راشي.

مشـر ورور ميوند ته مخ وروااړاوه ، له الماري څخه خو يوه کتابچه راواخله ، چې دغه سـودا پکې وليکم.

هغه پورته شو ، له بلې کوټې يې کتابچه راوړه او عابد ته يې ورکړه.

مور مې ورته شيان وښودل او ده وليکل.

ماته د هيلې پرونۍ خبره ذهن ته راغله ، چې سـبا زه درځم ؛ نو مې مشـر ورور ته وويل: يو/ دوه کيلو غوښه او لږ مېوه هم درسره راواخله.

سمه ده يې وکړل ، بيا يې ميوند ته وويل: ته راسره لاړ شه ، سودا به راوړو ، زه يو ځل دفتر ته ځم ، کار لرم.

هغه تندی تروش کړ او د مور لوري ته يې وکتل ، لکه هغې سره يې چې له اوله کومه خبره شريکه کړې وي.

مور مې مشر ورور ته وويل: ده ته بېگا ملگرو زنگ وهلی وو ، د جمعې ورځ ده ، چېرته چکر ته ځي.

ما ورته ووې: په بيړه دې شيان راوړي ، نور ورته اجازه ده.

دواړه له ځايه پورته شول او په سودا پسې لاړل.

مور ته مې وويل: نن خو هغه په تا چې ډېره گرانه ده ، د گاونډيانو تروږزې هيله هم راځي.

را دې شي يې وويل او بيا يې زياته کړه: زويه ، ډېره ښکلې او اخلاقي جينکۍ ده ، هر څه يې له لاسه پوره دي.

لاس يې ډېر خوږ دی ، هغه ورځ ټول شيان هغې پخه کړي وو.

په خندا مې ورته ووې: مورکې ، چې دومره ښه ده ؛ نو ماته يې کوې ولې نه ؟

مور مې ځواب راکړ: زويه ، چې راکوي يې ؛ نو نن يې درته کوم ، له هغې ښه انجلۍ پسې نور زه هم نه گرځم او بيا يې خبره وغځوله: ډاکټري وايي ، په کور کې به مې ډاکټره وي ، نور له خدايه څه غواړم ؟

ورته مې وويل: مورې ، هغه خو نازولې رالويه شوې ده ، ته به کارونه پرې کوې ، هغه به يې کولای نشي ؛ نو به هره ورځ لانجې وي.

لور مې نشته ، هغه به مې لور وي ، يې وويل او بيا يې زياته کړه: دغه دومره موده کارونه چا راته کول ؟ پر هغې به هېڅ کار نه کوم ، لکه د گل به يې نازولې ساتم.

غېږه مې ترې تاوو کړه او په تندي مې ښکل کړه ، ورته مې ووې: مورکې قربان ، ولې به يې نه کوې ، په زور.

تر ډېره مو همدا کيسې کولې ، چې کوچني ورور مې سودا راوړه.

په بيړه يې ځان تيار کړ او مور ته يې وويل: ماته ملگري د پارک سره ولاړ دي ، زه هغوی سره چکر ته ځم.

مور مې ورته وويل: لاړ شه ؛ خو بيا وختي راځه.

زما موبايل ته زنگ راغی ، سکرين ته مې وکتل ، د هيلې نمبر و ، قطع مې کړ.

د مور له خنګه پورته شوم او بلې کوټې ته لاړم.

زنګ مې ورته ووهه ، له اوکې سره سم یې سلام وکړ او بیا یې ووې: الهامووو خنګه یې ؟ ټوله شپه مې له ذهن نه یې وتلې.

د سلام ځواب مې ورکړ او بیا مې زیاته کړه: هیلووو تا دې خدای راته لرې ، اوس بیخي ښه یم.

ته خنګه یې ؟

هغې وویل: زما چې ته ښه وې ؛ نو زه هم ښه یمه او که ته ښه نه وې ؛ نو زه هم ښه نه یمه او بیا یې خبره وغځوله: زه دې ولې نه خبرولم ، چې تا ټکر کړی دی ؟

ورته مې ووې: اې ښکلې ، موبایل نه و ، بل روغتون کې وم ، بیا مې که ته خبره وای ؛ نو څه فایده ، یوازې به ځورېدې.

هغې ووې: ته په دردونو کې وې ، زه د هم ځورېدای ، له تا زه زیاته یم ؟

په خندا مې ورته وویل: لېونۍ ، دا کیسه پرېږدهٔ ، نن راځې او کنه ؟

ځواب یې راکړ: د همدې لپاره مې زنګ وکړ ، زه او مورکه د ترور کره درځو او هلته خو نو ستا لیدو ته پرېمانه بهانې دي ، بیا یې زیاته کړهٔ: اې ، مور نارې وهي ، لکه چې موټر راغلی دی ، اوس خوږ وخت ولرې ، له نږدې دې وینم.

خدای پاماني مو وکړهٔ او موبایل یې بند کړ.

د هیلې له خبرو سره مې زړه بیخي بل شان شو. هر څه راته خوښ ښکاره شول. له ځان سره مې وویل: نن به ښې ډېرې کیسې ورته کوم ، ښکلو سترګو ته به یې ګورم او ټینګه به یې په غېږ کې نیسم.

همدا د سوچونو په ټال کې زنګېدم ، چې مور مې غږ کړ:

الهامه زویه ، رومیان یې نه دي راوړي ، که څوک راشي.

له ځایه پورته شوم او مور ته مې وویل: سمه ده ، زه به یې راوړم.

د باندې راووتم ، کور ته مخامخ هټۍ (دوکان) کې مې پوښتنه وکړهٔ ؛ خو ورسره نه وو ، بیا مې د کوڅې بر سر کې سپینږي کراچیوان څخه واخیستل او بېرته کور ته راغلم.

مور مې نغري کې لګیا وه ، رومیان مې ورکړل او زه کوټې ته لاړم.

موبایل مې راواخیست ، فسبوک ته ننواتم ، تازه د زمبابوی خلاف کرکټ لوبو لپاره افغان لوبډله اعلان شوي وه. د اکثریت مینوالو ګرمې تبصرې پرې روانې وې.

هر چا د خپل خوښې لوبغاړي د اخیستو په پار پوسټ کړی و.

لږ پکې ښکته پورته شوم ، ګنګس یې کړم ، بېرته مې بند کړ او په کټ کې وغځېدم.

د خیالونو په دنیا کې په چکر بوخت وم ، چې باندې مې د چا خبرې تر غوږ شوې.

غلی مې سر پورته کړ ، دروازې ته نږدې مې مور له ښځو سره سترې مشي کول.

له ځایه راپورته شوم ، چې ومې کتل ؛ نو ترور او ترورزۍ مې وې.

له کوټې زه هم د باندې راووتم او مخ ته یې ورغلم.

ترور مې ټینګه غېږه راباندې راتاوو کړهٔ او په تندي یې ښکل کړم او بیا یې وویل: شکر ، چې خدای ساتلی یې ، قربان دې له د ژېړ رنګ شم.

څو شېبې یې همداسې نیولم وم او په مخ یې ښکلولم ، چې دروازه خلاصه شوهٔ.

د هیلې ترور ، نرسه ، هیله او یوه بله ښځه ورسره ، راننواتل ، چې زه یې ولیدم ؛ نو په دروازه کې ودارېدې.

زړه مې بې واره درزا شروع کړهٔ ، په بیړه د کوټې په لور روان شوم ، مور مې پرې غږ کړ: راځئ ، هېڅوک هم نشته.

کړکۍ ته مخامخ پناه ودارېدم.

دوی ټولو سترې مشې وکړل او بیا د برانډې خواته لاړل.

هیله له نورو ورځو نن په تورو اوږدو کالیو او سپین ټیکري کې بیخي ښکلې ښکارېده.

زه په دې سوچونو کې وم ، اوس به څنګه سره وینو او خبرې به کوو ، چې موبایل ته زنګ راغی.

نمبر ته مې وکتل د شرکت مالک و ، په بیړه مې اوکې کړ.

سلام او پوښتنه مو وکړل ، هغه وویل: د زرنج والا ته ادرس ورکړه ، د کور لپاره مې لږ شیان درته اخیستي دي ، چې هلته یې دروړي.

ډېر ټينګار مې وکړ ، چې په کور کې هر څه شـته ؛ خو هغه شـله وو. بيا مې ادرس ورکړ او اړيکه مو پرې کړه.

پنځلس دقيقې وروسته د زرنج والا زنګ وکړ ، چې د باندې په کوڅه کې ولاړ يم.

ورته مې وويل: دادی درغلم او په بيړه ورووتم.

زرنج ته مې چې وکتل ؛ نو د شيانو ډک وو. ورته مې ووې: زه لويه دروازه خلاصوم ، دننه به يې ښکته کړو.

سمه ده يې وکړل او زه کور ته راننواتم.

مور ته مې غږ کړ ، د باندې ما راوځئ ، چې زرنج راځي.

دوازه مې خلاصه کړه او هغه دننه راغی.

د شرکت مالک سره د خدای ښه وکړي ، هر څه يې ښه پرېمانه راليږلي وو.

سـامان چې مو ښـکته کړ ؛ نو زرنج والا ته مې د چای او ډوډۍ سـاعت وکړ ؛ خو ويل يې ، چې بل ځای مې بار نيولی. هغه مې رخصت کړ او زه کوټې ته لاړم.

لږه شېبه وروسته هيله او نرسه زما د مور سره يو ځای نغري ته د شيانو په وړلو لګيا شوې.

ما پټې خارلې ؛ خو د هغوی پام نه وو.

هيلې او نرسې د اوړو بوجۍ په شريکه ونيوله ؛ خو چې لږ وړاندې لاړې ؛ نو ترې وغورځېده ، دواړه له خندا شنې شوې او بيا مې مور ورسره کومک شوه.

لمر تېزه لګېده ، کړکۍ مې پرېښوده او کټ ته لاړم.

څو دقيقې وروسته نرسه او مور مې دروازې ته راغلې ، له نرسې سره يې مخه ښه وکړه او لاړه.

غرمه شوه ، کوچنۍ تروروزۍ مې ډوډۍ راوړه او د کوټې په منځ کې ورته کېناسم.

نيم به موړ وم ، چې هيله موبابل غوږ ته نيولی راننوته.

ددې پر ځای چې سترې مشي ورسره وکړم ، په ورخطايۍ مې وويل: هيلووو دا څه کوې ، که څوک دې ووينې ؟

هغې په خندا ووې: مه ډارېږه ، هغوی ډوډۍ ته ناست دي ، سـاعت مې برابر کړی و ، چې ګوندې زنګ راغی ، د موبايل په بهانه ترې راووتم.

په داسې حال کې چې زړه مې بې واره ټوپونه وهل ، له ځايه پورته شوم ، هغې دروازه بند کړهٔ. د سترګي مشي لپاره مې لاس ور اوږد کړ ، هغې شونډې بوڅې کړې ، راته يې ووې: لکه زه چې پرادۍ وم ، غاړه راکړهٔ.

پښې راپسې مړې شوې ، سترګې مې پټې کړې او غاړه مې ورکړهٔ.

په مخ يې ښکل کړم ، ښه شېبه يې همداسې نيولم وم ، چې ور ومې کتل ، له سترګو يې اوښکې رواني وې.

ورته مې وويل: هيلوووو ته لېونۍ شوي يې ؟

هېڅ يې ونه ويل ، همداسې يې ټينګه غېږه رانه تاوو کړې وه.

ما بيا ووې: اې ښکلې ، چې داسې کوې ، بيا خو له کوټې وځم.

په داسې حال کې ، چې شونډې يې راپېدې ، له ښکلو غټو سترګو يې اوښکې رواني وې ، راته يې وويل: ستا خو اوس هم سر پټۍ دی ، ته ډېر خوږ شوی يې ؟

بيا يې لاسونه رانه تاوو کړل او سلګو واخيسته.

له دواړو اوږو مې ونيوهٔ او بيا مې يې په ښي لاس له مخ اوښکې وچې وکړې او ورته مې وويل: دا څه کوې ، د خدای کارونه دي ، که مړ وای څه به دې کول؟ شکر وباسهٔ ، دادی روغ جوړ درسره ولاړ يم.

ته په کټ کې کېنهٔ يې ووې او بيا يې خبره وغځوله: الهامه ، تا دې خدای په هېڅ نه کوي ، د خولې لاړې دې دارو شهٔ.

زه کېناستم هغې ته مې هم د کېناستو ووې ؛ خو ويل يې ، چې هغوی به نور ډوډۍ خوړلې وي ، زه ځم هغه بلې کوټې ته.

سترګو ته مې يې وکتل ، سرې يې اچولې وې ، ورته مې وويل: هيلوووو هله ژر د مخ په يخو اوبو ومينځه ، چې خوګ درباندې پوه نشي.

راټيټه شوه ، ښکل يې کړم او بيا غلې له کوټې ووتهٔ ، د نالکۍ خواته راغلهٔ.

ماته دغه هر څه لکه يو خوب داسې ښکاره کېدل.

د هيلې ژړا مې چورت خراب کړی و ، زړه مې پرې وچ ، وچ وخوږېدهٔ ، له ځان سره مې ويل: د هيلووووو په خوله بايد همېش خندا وي ، ژړا نه.

ټوله ورځ په کور کې وم ، څو ځلې مې هیله ولیدۀ ، په زړه کې مې یو ډول پټه خوښــــې احساسوله.

مازدیګر ته نږدې دوی لاړل او ترور مې شپې ته پاتې شوه.

وختونه تېرېدل ، زخمونه مې ټول روغ شـول ، بېرته عادي حالت ته راوګرځېدم ، کله به په موبایل له هیلې سره غږېدم او کله به چې د ترور کره راغلۀ ؛ نو په یوه بهانه به راتله.

نرسه هم د هماغه پخوا غوندې وه ، کور ته راتګ او ځینې وخت به یې زنګ راته کاوۀ ؛ خو تر اوسه مې منفي / مثبت ځواب نه و ورکړی.

نوي کال ته نږدې د شرکت مالک راتهوویل: د کابل نماینده ګۍ ته چې ته لاړ نشې ؛ نو کار خرابیږي.

ورته مې وویل: ستونزه نشته ، دلته یا هلته ټول یو کار دی ، کوم به یې.

بلاخره پرېکړۀ ، وشوۀ ، چې زه به کابل ته ځم.

کور کې مې مور ته دا خبره وکړۀ ، راته یې ووې: زویه ، خپل زړه ته دې ګورۀ ، چې ســخته وي ؛ نو مه ځۀ.

نه هېڅ سخت نه دی مې ورته وویل او بیا مې زیاته کړۀ: مورکې ، زه سبا ځم ، کابل ښه ځای دی.

بیا که دلته کومه وظیفه برابره شوه ؛ نو هغه به پرېږدم ، څه د چا خو زور نه دی راسره.

سمه ده یې وکړل او بیا یې ووې: د خدای په خزانو کې خو د څه شي کمی نشته ، الله مو له غیبه چاره جوړه کړۀ.

د هیلې څخه لرې کېدل ډېر راته سخت و ، ټوله ورځ مې ذهن خراب و.

هېڅ داسې لاره نه وه ، چې زه پاتې شوی وای.

بیا مې ځان ته په دې داد ورکاوۀ ، چې شکر دی ، زه خو دنده لرم ، داسې خلک شته ، چې په دندو پسې لېوني شول ؛ خو نه ورته پیدا کیږي او د یوې روپۍ طریقه هم نه لري.

پوهنتون مې ذهن ته راغی ، له ځان سره مې وویل: که څه چاره جوړه شوه ؛ نو ښه ده ، کنه هسې هم پاتې دی.

ورځ ټوله په همدې سوچونو کې تېره شوه ، نن شپه هیله په شفاخانه کې نوکري وه ، خبرې مو ونه کړې او نه مې د ورځې څه ورته ویلي و ؛ خو چې ویده کېدم له هغه وړاندې مې ورته په وټساپ کې دا ټپه ولیکله:

چې د سبا سترګه راخیژي

ما به پنډوکی د سفر تړلی وینه

سهار وختي چې مې چاى وڅښنه ؛ نو مور ته مې وویل: زه به لاړ شم ، چې په وخت ورسېږم.

له ځایه راپورته شوه تر دروازې راسره راغله ، د خدای په امانۍ پر مهال یې ټینکه غاړه راکړه او راته یې وویل: زویه ، په خدای مې سپارلی یې.

سترګو ته مې یې وکتل اوښکې ترې روانې وې ، خبرې راڅخه ورکې شوې ، هېڅ مې ونه ویل ، د جامو شیانو بکس مې شاته واچوه ، زما په سترګو کې هم اوښکې تم نه شوې ، لارې یې جوړې کړې او ډکې سترګې له کور څخه راووتم.

تر موټر ځایه مې خپله غریبي راټله ، که دا نه وای ؛ نو ولې به کابل ته تلم ، ولې به مې له هیلې څخه لرې کېدم او ولې به مې مورکۍ پاتې کېده.

اډې ته لکه خوبولی راورسیدم ، له هټۍ ( دوکان ) مې اوبه راواخیستې ، بیا مې په موټر کې چوکۍ ونیوه او بکس مې شاته کېښود.

په څو دقیقو کې موټر ډک شو ، یوه سپینږیرې غږ کړ ، دعا وکړئ ، چې حرکت کوو.

دعا مو وکړه ، موټر روان شو.

زه غلی په چورتونو کې ډوب ناست وم ، چې تر څنګ کس راته وویل: حیرت دی ، داسې خپه غوندې ښکارې ؟

دروغجنه غوندې خندا مې وکړه او بیا مې زیاته کړه: هو حیرت دی ، لږ مې سر درد کوي.

جېب ته یې لاس کړ ، د ګولیو پاکټ یې راکړ او راته یې ووې: له دې څخه یوه وخوره ، ان شاءالله ښه کوي دې.

په ګولۍ مې زور وکړ ، له پاکټ راوواته ، خولې ته مې واچوله او د اوبو بوتل سر مې خلاص کړ ، پسې مې وڅښلې ، په دروغو مې ترخه ګولۍ وخوړه.

مننه مې ترې وکړه او پاکټ مې بېرته ورکړ.

هغه وویل: اوس چوکۍ ته تکیه وکړۀ ، ژر دې ښه کوي.

دسمال مې تندي ته لاندې کړ او په مخکې چوکۍ مې سر کيښود.

د کابل څو ساعته لار لکه د کال راته اوږده شوه ، غرمه ناوخت راورسيدو.

موټر مې ونيو ، سيده نماينده ګۍ ته لاړم.

کار ځای ته چې راغلم ؛ نو له ډوډۍ وروسته په ټوله نماينده ګۍ کې راوګرځېدم.

هغه بل نماينده له کاريګرو سره معرفي کړم ، ورته يې وويل: له نن وروسته به زما پر ځای دلته دغه مسؤل وي.

په نوي ځای کې مې بيخي زړه تنګ و ، هر څه راته ګډ وډ ښکارېدل.

د کوچني ورور له نمبر مې مور څو ځلې زنګونه راته وکړل ، پوښتنه يې کوله.

ورته مې ويل: بيخي ښه او ارام ځای دی ، ماته يې زيات خوند راکړ.

د چا پر ځای چې راغلی وم ، ټوله ورځ راسره و ، حسابي مو سره وکړه او رخصت يې واخيست.

ورځې د شپې جامې واغوستې.

اشپز ډوډۍ راوړۀ ؛ خو زړه ته مې نه کېده ، هر څه راته بې خونده برېښېدل.

منشي مې خپل دفتر ته راوغوښت. تر ناوخته مې د کارونو په اړه ترې ځان وپوهوۀ ، بيا هغه وويل: پرون شپه مې هم خوب نه دی کړی ، که اجازه وي ؛ نو زه به ويده شم ؟

ورته مې ووې: هله ورځۀ ، سبا ان شاءالله پرې غږېږو.

هغه لاړ ، ځان ته مې د چای پياله ډکه کړۀ ،

مور ، هيلې او پوهنتون ته مې بيخي چورت خراب و.

تر ډېره مې بېلابېل سوچونه کول ، بيا مې موبايل راوخيست هيلې ته مې زنګ وکړ ؛ خو نمبر يې بند و.

وټساپ مې خلاص کړ ، هغې زما د ټېپ په اړه ليکلي و: لکه چې له ملګرو سره چکر ته ځې.

بيا يې مزديګر ناوخت بل مسېج کړی و: ښګا نوکرې وم او تر غرمې مې خوب وکړ ، ناوخته هغه ولسوالۍ کې د تره کره راغلو ، د شپې درسره خبرې نشم کولای.

موبایل مې بېرته کیښود او د چای ساړه شوي پیاله مې واړوله ، بله مې ډکه کړۀ.

د خیالونو نړۍ ته ننواتم.

د هیلې سره د تېر شوي وخت صحنې مې لکه فلم ، په ذهن کې راوستې.

د هغې ښکلې څېره ، زموږ کور ته راتګ ، خوږې خبرې او شوخ عادتونه.

زړه نا زړه وم ، چې اوس یې کابل ته زما له تګ څخه خبره کړم او کنه ؟

بیا مې پرېکړۀ وکړۀ ، چې زه باید پخپله ورته ووایم ، ځکه حتماً بیا هم خبرېږي.

تر ډېر ویښ وم ، یو وخت راباندې د خوب زور شـو ، کمپل مې په سـر راکش کړۀ او په څو شېبو کې د خوب تر نړۍ رسیدلی وم.

سهار چې راپورته شوم ؛ نو له ډېر څور څخه مې شونډلې وتلي (چاودلي) وې.

له چای وروسته له منشي سره یو ځای په کار لګیا شوم.

هر څه یې یو ، یو راته ښودل.

غرمې ته نږدې د هیلې زنګ راغی ، ترې قطع مې کړ ، دفتر ته لاړم ، زنګ مې ورته وکړ.

له اوکې سره سم یې سلام وکړ.

د سلام ځواب مې ورکړ. بیا مو پوښتنه سره وکړۀ ، هغې ووې: هغه بله شپه دې څنګه د سفر پندوکی به مې ترلی وي ، تپه راته لیږلي وه ؟

ورته مې وویل: خو ریښتیا وه کنه ، نور درنه ډېر لرې یم.

په خندا یې زیاته کړۀ: ته چې ډېر لرې شــي ؛ نو کلي ته به ځې ، اوس هغه هم ســفر کې شمارې ؟

لږ غلی شوم ، بیا مې ورته ووې: کاش کلي ته راغلی وای ؛ نو کومه خبره به نه وه ، مګر کابل ته راغلی یم ، نور مې کار دنده دلته شوه.

هغې د رېشخند په ډول زیاته کړۀ: یو خو دا بې وخته ټوکې مه کوۀ.

د زور خندا مې وکړه او ورته مې وویل: بس نن ټوکې نه دي ، ریښــتیا دي ، بیا مې خبره وغځوله: هیلوووو هېڅ چاره نه وه ، باید راغلی وای ، ځکه نور کارونه نشته.

ښه شېبه غلي وه ، بیا خبرې شروع کړې: الهامیه ، پوهنتون څنګه کوې ؟ زه د عادت کړم ، د جمعې په ورځ به تا چېرته وینم ؟

بې ځوابه وم ، هېڅ مې ونه ویل.

هغې بیا زیاته کړه: کابل پرېږده ، بېرته ترې راشـه ، زه مې خپله ټوله خرچه تاته درکوم ، تر هغه ګوندې دلته کوم کار پیدا شي.

ورته مې وویل: زما ښکلې هیلې ، اوس څه وخت همدلته ښه یم ، چې هلته کار پیدا کړم ؛ نو بیا به دغه ځای پرېږدم.

غږ یې لوړ شـو او راته یې په غوسـه ووې: ګوره زما خبره ومنه ، زه مې د میاشـتې ټوله خرچه تاته درکوم ، پلار ته مې وایم ، چې زما د یوې ملګرې ورور دی ، کار ورته راګوره ، ان شاءالله حتماً پیدا کیږي او بیا یې خبره وغځوله: هر وخت پخپله خبره مه ټینګېږه ، که رانغلې ، بیا ماته زنګ ونه کړې.

په ارامۍ مې ځواب ورکړ: قربان دې شم ، زه هم ملګرو ته وایم ، چې کار راته وګوري ؛ خو تر هغه دغه کار نشم پرېښوداى ، ځکه ما بېکارې لېونى کوي.

چیغه یې کړه ، ته زما خبره نه اورې او اړیکه یې پرېکړه.

بیا مې زنګ پسـې وکړ ؛ خو پورته یې نه کړ ، پرلپسـې مې څو زنګونه ورته وکړل ؛ مګر بې ځوابه وو.

ماته هم غوسـه راغله ، چې اوس دا ګوره ، خپله سـرزورې کوي ، زما خبرې ته غوږ نه ږدي ، دا چې فکر مې خراب و ، بیخي مې موبایل بند کړ.

همدا کشــمکش مې په ذهن تاوېده ، راتاوېده ، چې یو کاریګر دفتر ته راننوت او راته یې وویل: نماینده صیب ، زما مور ناروغه ده ، که اجازه وي ؛ نو زه به کور ته لاړ شم.

ورته مې وویل: هله ، په سترګو لاړ شه ، زه څه خدمت وکړم ؟

مننه یې وکړه او بېرته ووت.

څو شېبې وروسته اشپز له دسترخوان او پتنوس سره راغی.

زړه ته مې نه کېده ؛ خو بیا مې هم لږه وخوړه.

اودس او لمونځ مې وکړل ، بېرته کار ته ور وواتم.

تر مزدیګر مو نوي راغلي موټر خالي کړل او ګدامونه ډک شول.

هیله مې له ذهن څخه نه وتۀ ، ټولې خبرې مې یې په ذهن کې راګرځېدې.

نه پوهېدم ، څنګه قناعت ورکړم ، چې زه باید د څه وخت لپاره همدلته اوسم ، ځکه دا زما یو مجبوریت دی.

ماښام ته نږدې چې لمر خپلې لمنې ټولې کړي وې او تیارې څادر غوړوۀ ، موبایل مې خلاص کړ.

دا چې یو کابل ته نوی راغلی وم او بل هیله خپه وه ؛ نو زما هم زړه تنګ و ، له لمانځه وروسته د چکر لپاره د باندې ښار ته راووتم او یوه کافي شاپ ته لاړم.

د شین چای او شیدو کیک غوښتنه مې وکړۀ.

دا چې د را داخلېدونکو خلکو دروازې ته نږدې ناست وم ؛ نو ټولو به مې پام ځان ته اړووو.

د کافي شاپ کارکوونکي چې سره دېرشي یې اغوستي وه ، چای او کیک زما مخې ته پر مېز کېښودل او دیګه چیز خدمت کنم ؟ (نور څه خدمت وکړم) یې وویل.

مننه مې وکړۀ او لاړ.

ښځینه او نارینه ډېر خلک راتلل او د مېزونو شاته پر چوکۍ به کېناستل او په خندا به یې کیسې سره کولې ، زما پر ځان زړه وسوځېده ، ځکه یوازې ناست وم او د نورو ننداره مې کوله.

ښي طرف ته مې یو ځوان او جینۍ ناست وو ، په دری ژبه یې خبرې کولې.

داسې لګیا وو ، لکه نور چې دلته هېڅوک نه وي ، له خندا به شنه شول او په چوکیو کې به شاته لور ته کاږۀ شول.

بله غاړه هلک او جینۍ سېلفیان سره اخیستل ، زما سره دومره څوک نه وو ، چې د فسبوک لپاره یې رانه یو تصویر اخیستی و.

تر ناوخته مې دغه حالت ننداره کړ ، بیا مې پکې زړه تنګ شو او ترې راووتم.

پلی د دفتر په لور روان شوم.

په لاره به پوډریان مخې ته راغلل ، ځان به مې ترې څنډې ته کړ.

دفتر ته نږدې د سرک په غاړه مې یو پوډري مخې ته ودارېده ، د پلاستیکونو بوری په اوږه ، بابر خیرن ویښـتان ، تور مخ چودلي لاسـونه او لوڅې پښـې ، ترې ووېرېدم ، ځکه وخت ناوخت به یې خلکو څخه د خپلو نشو لپاره پیسې اخیستې ، په چاقوګانو به یې وهل.

غوښتل مې ترې یوې خواته تېر شم ؛ خو هغه لاس را اوږد کړ او په لړزیدلي غږ یې ووې: د ډوډۍ لپاره خو روپۍ راکړۀ.

زړه مې پرې وخوږېدو ، له ځان سره مې وویل: دا به هم مور ، پلار ، خور او ورور لري ، ولې به دې حالت ته راسیدلی وي ؟

جېب ته مې لاس کړ ، پنځوس افغانۍ مې ورکړې ، بیا مې ورته وویل: ته د شپې چېرته ځې ؟

پیسې یې جېب ته کړې ، ماته یې وکتل ، پرته له دې چې څه ووایي ، روان شو.

زه همداسې ولاړ وم ،ورپسې کتل مې ، له ځان سره مې ویل ، دا به د شپې په دې ساړه کې چېرته ویده کیږي ؟ لږ وړاندې تېر شـو ، سـپي پرې ورمنډه کړه ، بورۍ یې له اوږې راښـکته کړۀ او د سپي لور ته یې نیوله وه ، له دیوال پناه شو.

د نشه یې توکو جوړونکو او خرڅوونکو ته مې بې احیتاره له خولې ښېرې وواتې ، چې داسې زرګونه ځوانان او ښځې یې د دواړو جهانو له تباهۍ سره مخ کړي دي.

په همدې چورتونو کې ډوب ولاړ وم ، چې ځنګ ته مې موټر ودارېدۀ ، ما غوښتل چې حرکت وکړم ؛ خو دوه کسـان چې توفنګچې یې په لاس کې وې ، له موټر راښـکته شـول او راته یې وویل: شور ونه خورې.

په ځای ولاړ پاتې شوم ، حیران وم ، چې دا اوس څوګ دي او څه غواړي.

یو کس راوړاندې شو ، راته یې وویل: موبایل د راکړۀ.

ورته مې ووې: سیمکارتونه دې ترې وباسم ، درکوم یې.

سترګې یې برګې کړې او توفنګچه یې راته په سر کیښوده ، بیا یې زیاته کړۀ: خبرې مه کوۀ ، چې څه زه درته وایم ، هماغه وکړۀ.

پوه شوم ، چې هېڅ نه مني ، موبایل مې ورکړ.

بیا یې جېبونه رانه تلاشي کړل او هر څه یې واخیستل.

شکر مې وباسۀ ، چې غټ موبایل مې نه دی راوړی ، ساده هغه دې یوسي

نه پوهېدم اوس څه وکړم.

یو غل هغه بل ته وویل: ساده موبایل دی ، ورته به یې ورکړم؟ هغه د سمه ده ، په نیت سر وښوروڅ ، موبایل یې ېېرته راکړ او موټر ته پورته شول ، په بیړه یې راتاوو کړ او په څو شېبو کې مې له سترګو پناه شول.

زړه مې په کابل کې اوس نو بیخي تنګ شو.

له ځان سره مې ویل ، ښه ستا له چکر سره څه وو ، چې ته بیا په شپه ګرځېدې.

د نماینده ګۍ په طرف روان شوم ، په څو دقیقو کې ورسیدم.

دروازه بند وه ، پهردار ته مې زنګ ولاړ ، په بیړه یې راخلاصه کړۀ ، چې راننواتم ؛ نو مې اشپز ته غږ کړ: دفتر ته خو چای درسره راوړۀ.

سمه ده ، ایښی مې دی یې وویل ، زه دفتر ته لاړم.

په کوچ (دفتري چوکۍ ) کې مې تکیه وکړۀ او د پېښې په اړه مې سوچونه کول. ولې د سرک په سر غله دومره ډېره له خلکو پیسې / مابایلونه واخلي؟ ولې وېرېږي نه؟ ولې هېڅوک راته ونه دارېدل؟

هر څومره سوچ مې چې وکړ ؛ خو د پوښتنو ځوابونه مې پیدا نه کړل.

دروازه خلاص شوه ، اشپز چای راوړ او راته یې وویل: پیاله درته ډکه کړم؟

ورته مې وویل: ژوندی اوسې ، بس همدلته یې کیږدۀ ، بیا یې لږ وروسته زه خپله ډکوم.

پتنوس یې ېېرته یووړ ، ترموز او پیاله یې راته په مېز کېښودل.

ښه شېبه مې چورتونه ووهل ، چې ساعت ته مې وکتل ؛ نو څه کم لس بجې وې.

چای مې وڅښۀ ، نور څملستم. تر ډېره خوب رانه تښتېدلی و ، نه پوهېږم څه وخت و ، چې خوب مې سترګې راپټې کړې وې.

سهار شو ، بیا مو هم د معمول په څېر کار پیل کړ.

شپې او ورځې یو په بل پسې تېرې دې.

هیله لکه ضد چې نیولې وي او ما هم له ځان سره ویلي و ، هغې درنه موبایل بند کړ ، چې خپله یې زنګ کړی نه وي ؛ نو نه به ورسره غږېږم.

ځو ورځې مو خبرې ونه کړې.

د نوي کال دویمه ورځ مزدیګر ، پارک ته راوتلی وم ، چې هیلې زنګ ووهځ.

یو خدای خبر و ، چې زه به ځومره خوشال شوی وم.

موبایل اوکې سره سم مې سلام وکړ•

د سلام ځواب یې راکړ.

ورته مې وویل: هیلوووو پخیرونو ، پخیرونو ، څنګه یې ؟

ښه نه یم یې ووې او غلي شوه.

پوه شـوم ، چې مروره ده ؛ خو ځان مې ناپوهه واچوځ ، ورته مې وویل: ولې ؟ خدای دې نه کړي ، څه درباندې شوي دي ؟

ځواب یې راکړ: هېڅ راباندې نه دي شوي ، تاته یې چې induced Okay ووایم ؛ نو څه ؟

په خندا مې ورته ووې: تا اوس د جنګ لپاره زنګ کړی او که د پوښتنې لپاره ؟

ځان یې غوسه ښودځ ، لږ په لوړ اواز یې زیاته کړځ: تاته مې داسې غوسه نه راځي ، ښه ده ، چې رانږدې نه یې ، کنه زه به دې خوښه شوي وم.

ورته مې وویل: خوښه خو مې بغبر له دې څخه هم یې ، هسې خو نه وم درپسې خپه.

ویې خندل او بیا یې ووې: تا دغه دومره موده کې زنګ ولې ونه کړ ؟

ځواب مې ورکړ: هغه زنګ ما قطع کړ او که تا ؟ بیا دې موبایل هم بند کړ ، اوس ملامت هم زه شوم هنن ؟

ښه اوس دا پرېږدځ ، یې وویل او بیا یې زیاته کړځ: الهامووو یادېږې مې.

ورته مې وویل: بیخي دې یادېږم نه ، کنه دغه ځو ورځو کې خو به دې پوښتنه کړی وای.

بخښنه یې وغوښته او بیا یې خبره وغځوله: داسې نه وي ، چې کابل کې دې له نورو جینکو سره ملګرتیاوې شروع کړي وي ، ځان به راباندې ووژنې.

ښـه د زړه له خلاص مې وخندل او ورته مې وویل: ته چې راسره هر وخت جنګونه کوې ؛ نو مجبور یم ، چې ځان ته بله پیدا کړم.

هغې ووې: زما دې مرګ دې اورېدلي که څنګه ؟

خبره مې بدله کړۀ ، هیلووو زما هم یادېږې ، درپسې خپه وم ؛ خو دا مې له ځان سره ویلي و ، چې تا زنګ کړی نه وي ، زه یې هم نه کوم.

په خندا یې راته وویل: ضدونه مه کوۀ ، بدرنګوي دې او بیا یې زیاته کړۀ: الهامیه ، اذانونه وشول مور غږونه هم کوي ، بېګاته زنګ درته کوم ، یوه مهمه خبره ده ، اوس خوړ او ښکلی وخت ولرې.

اړیکه مو پرې کړۀ

بیخي خوشال شوم ، چې هیلې سره مې خبرې وشوې ؛ خو مهمې خبرې ته مې یې تلوسه شوه.

له ځان سره مې ویل: دا به اوس څه وایي ؟ ولې یې اوس راته ونه ویل ؟

تر ډېره مې په ذهن کې همدا خبره تاوېده ، بیا مې ساعت ته وکتل ، ناوخت و ، په بیړه له ځایه پورته شوم ، د پارک جومات ته لاړم ، لمونځ مې چې وکړ ؛ نو د دفتر په لور روان شوم.

## د دریمې برخې پای